د قرآن او حدیث په رڼا کي

د عمری مسائل

(بشپړ او مدلل)

لیکوال: مولانا محمد رفعت قاسمي

د دیوبند د دار العلوم مدرس

ژباړن: عبدالله گل "ریان"



مکتبۂ رشیدیہ

د قرآن او حدیث په رڼا کې

د عمرې مسائل

(بشپړ او مدلل)

کوال : مولانامحمد رفعت قاسمي
د ديوبند د دارالعلوم مدرس

ارن: عبدالله ګل "ريان"

خپرندوی : رشيديه کتابخانه، کوټه

کتاب پېژند:

د کتاب نوم :دعمرې مسئلې

لیکوال :مولانا محمدرفعت قاسمي

ژباړن :عبدالله ګل "ریان"

کمپوز:سواد فرهنګې ټولنه

کمپوزر :بشیر احمد "ریان"

تصحیح کوونکی :مولوي سفرمحمد "عابد"

دچاپ کال : ۱۳۳۱ه‍ ق (۱۳۸۹المریز)

خپرندوی :رشیدیه کتابخانه، کوټه

فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

انتساب

زه مي خپله دا پلټنه (دعمري مکمل او مدلل مسائل) خپل مهربان درانه استاذ محترم روزونکي او محسن، امام التفسير، فخر المحدثين حضرت مولانا سيد، انظرشاه مسعودي قدس سره، دديوبند شيخ الحديث او صدر المدرسين، دالامام محمد انورشاه کشميري (رح) دجامعي باني ته په انتساب نيکمرغه کوم.

نوموړی په کال ۱۳۴۷ هـ ق، دشعبان المعظم دمياشتې په ۱۴ نيټه (۲٦ جنوري ۱۹۲۹م) زيږيدلی او د ۱۴۲۹ هـ ق کال دربيع الثاني په ۱۹ نيټه (۲٦ اپريل ۲۰۰۸ م) وفات شوی دی.

له عمره کوونکو څخه هغه ته دثواب او ددرجو دلوړوالي ددعا هيله ده.

آسمان دي ستا په لحد شبنم پاشي
نوي ټوکيدلي بوټئ دي دا کورساتي

محمد رفعت قاسمي غفرله
يو له شاګردانو څخه دهمدې ستر محدث

دليکوال عرض

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم!

ما دخپل ترتيب کړي کتاب (دحج مکمل او مدلل مسائل) له لړو ډيرو مسائلو سره، دعمرې کولو مسائل بيل ترتيب کړل. څکه عمره کوونکي کسان، په ټول کال کې دعمري کولو لپاره ځي، تر څو هغوی په اساني سره عمره وکړي. په دې کې دعمرې مسائل، عمره څه شي ده؟ دعمرې شرايط، فرائض او واجبات، په رمضان المبارک کې عمره کول، دحج په مياشتو کې عمره کول، دعمرې لپاره مکروه ورځې، دعمرې لپاره احرام له کوم ځای څخه تړل کيږي؟ دعمرې کولو آسانه طريقه. دمړو او ژوندو لپاره عمره کول، په عمره کې دوداع طواف او نور عام فهمه مسائل يو ځای راغلي دي. الله تعالی دې قبول کړي. آمين

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

محمدرفعت قاسمي

دديوبند ددارالعلوم خادم

(يو، پي انډيا)

۱۵ذي الحجه ۱۴۲۹ھ (۱۴دسمبر ۲۰۰۸ع)

ددارالعلوم دفتاوی مرتب او ددیوبند ددارالعلوم دمفتي حضرت مولانا مفتي ظفیرالدین صاحب

تقریظ

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم :

ددیوبند ددارالعلوم استاذ، مولانا قاري محمد رفعت قاسمي صاحب مدظله، له څه وخته را په دې خوا ، داوسنۍ زمانې ضروریاتو ته په پام سره، دیني مسائل په لنډه توګه په بیل ،بیل کتابونو کې راټول او خپروي. دهیواد دننه او بهر په خاص او عام خلکو کې خورا ډیر منل شوي دي. (ماشاءالله)

دامهال دهمدې لړۍ نولسم کتاب (دعمرې بشپړ او مدلل مسائل) له ماسره دی . دیاد شوي مولانا دنورو کتابونو په څیر، دا کتاب هم په ډیر زیار سره ترتیب شوی دی. دعمرې دټولو ضروري مسائلو د رایوځای کولو هڅه پکې شوې ده. له مختلفو مستندو فتاواوو څخه یې له حوالو سره مسائل راغونډ کړي دي. الله تعالی ورسره مرسته هم کړې ده. هغه مسائل چې عمره کوونکو ته ضروري دي نژدې ټول یې په دې کتاب کې په یوه نه یوه عنوان کې راوړي دي. دعمره کوونکو لپاره یې ډیرې اسانتیاوې پیدا کړي دي.

عمره کوونکو ته زما مشوره داده چې تر عمره کولو وړاندې، دا کتاب په غور سره وګوري. له ځان سره دا کتاب وساتي تر څو له سنت سره سم عمره وکړي. زما دعاده چې کریم خدای دې دمولانا همدا ستر خدمت قبول کړي او ورته دآخرت توښه دې وګرځوي. (آمین)

ددعا په هیله !

محمد ظفیرالدین، ددیوبند ددارالعلوم مفتي

(شعبان المعظم ۱۴۲۹ هـ ق)

د ديوبند د دار العلوم د مفتي،

مولانا مفتي محمود حسن بلندشهري

تقریظ

الحمد لله الذي جعل بيته مثابة للناس وامنا. نحمده كما ينبغي لجلال وجهه الكريم وسلطانه العظيم. والصلوٰة والسلام على سيدنا محمد الذي انزل عليه المناسک والقرآن المبين وعلى اله وصحبه الذين قاموا بالدين القويم ومن اتبعهم باحسان الى يوم الدين.

څه موده وړاندې، مولانا قاري محمد رفعت صاحب مدظله دحج او عمري مسائل راغونډ کړل (يو مدلل او مفصل کتاب ترې جوړ او چاپ شو) هغه الحمد لله ډير مقبول وو. په هغه کتاب کې چي دعمري په اړه کوم احکام وو، په هغو کې له زياتوالي سره يي ترتيب کړی او هم يي نومورې يې بيل خپروي، ترڅو عمره کوونکو ته اساني تر لاسه شي. د تيرې په څير مې د دې مسوده هم بشپړه وکتله، الله تعالى دي ليکوال ته په دواړو جهانونو کې نيکه بدله او د ديني خدمت توفيق ور کړي. الله تعالى دي دا کتاب هم ورته د مقبوليت په شرف مشرف کړي.

اين دعا از من واز جمله جهان آمين باد. فقط

احقر محمود حسن بلندشهري، غفر الله له ولوالديه واحسن اليهما واليه.

د ديوبند د دار العلوم د تدريس او افتاء خادم.

قبيل صلوة المغرب

(١٠ ذی الحجه ١٤٢٩ يوم الثلثاء)

د دیوبند ددرالعلوم دمفتي دنائب، مولانا مفتي زین الاسلام قاسمي صاحب:

تقریظ

حامداً ومصلیاً ومسلماً!

د قدرمن، درانه ملګري، قاري محمد رفعت قاسمي صاحب دام فیضه، وعم نفعه، کتاب (دحج او عمرې مسائل) چاپ او خلکو ته ورسید. حج اوعمري ته دتلونکو لپاره په ورپېښېدونکو مسائلو کې ښه لاربښوونه ورڅخه ترلاسه کېدله. په هغه کتاب کې دحج او عمرې مسائل یوځای راغلي وو. خو دا اړتیا محسوس شوه چې دعمري په اړه مسائل بېل چاپ شي. ځکه چې دعمره کوونکو شمېره ترحج کوونکو اوري. (اللهم بارک فیه) له همدې امله دهغې مربوط مسائل بېل چاپول ډېر اړین ؤ، ترڅو یوازي دعمري دمسائلو او احکامو په لوستلو، پوهیدلو اویادولو کې سهولت وي. همداسي په سفرکې د وړو کي کتاب لرل هم اسانه وي. الله تعالی دې نوموړې مولانا ته دخیر بدله ورکړي. دده دنورو کتابونو په څیر یې په دې تولګه (دعمرې مسائل) کې هم دقه او فتاواوو له کتابونو څخه دعمرې په اړه هرډول جزئیات سره یو ځای کړي دي. ځیني ځایونه مولانا څو کتوري توضیحي لیکني په خپل قلم لیکلي دي.

ما دا تولګه له پیله ترپایه ولوستله، هره مسئله په ډاډمنه حواله ښکلي شوي ده. له همدې امله یې په استناد او اعتماد کې کومه شبه نشته او په پوره ډاډ سره داخبره کېدلای شي چې عمرې ته تلونکي خلک دې داکتاب څو، څو ځله ولولي. له ځان سره دې ولري. انشاءالله دسفر په دوران کې به ورته ورڅخه بشپړه لاربښوونه او مرسته پیدا شي. الله تعالی دی دا تولګه هم ګټوره او مقبوله وګرځوي.

ددرویشانو دپښو خاوري

زین الاسلام قاسمي

۱۴۲۹/۱۰/۲۵ه‍ق

بسم الله الرحمن الرحيم

تر سفر وړاندې ضروري خبرې

مسئله : دعمرې سفر په هر اعتبار خورا مبارک سفر دی. په دې مبارک سفر کې، ډیرې سترې، سترې وعدې شوې دي.انسان داسې مبارکو او سپیڅلو ځایونو ته ځي چې هلته ددعاوو دقبول وعدې شوې دي. نو تر دې سفر وړاندې له خپلوانو او دوستانو سره لیدل او له یوه بل څخه ددعاوو غوښتل جائز دي. په تیره بیا له هغو کسانو سره چې خبرې ورسره بندې وي ، ترمنځ یې ستونزې او کدورت راغلی وي، هغوی ته ورتلل، ورڅخه بخښنه غوښتل او دهغوی زړونه خوشحالول خورا ضروري خبره ده. په دې توګه که دچا حق پاته وي ، په چا تیری شوی وي، پوروړ څخه اخستل شوی وي او بیا ورکړل شوی نه وي. دحج (اوعمرې) تر سفر وړاندې هغه حق ادا کول، یایې کوم انتظام کول یا ورڅخه وخت اخستل او ځان داډمن کول ضروري ده. ترڅو له دې مبارک سفر څخه پوره برکتونه ترلاسه شي. څومره چې په پاک زړه ، د بندګانو دحق په اداء کولو سره ،له ممنوعاتو اومکروهاتو په ځان ساتلو اودټولو ادابو په مراعات کولو سره حرمینو شریفینو ته لاړ شي ،هغومره به انشاء الله ورته ډیر برکتونه حاصل شي.

دادحج په فضیلتونو کې ده چې تر هرڅه وړاندې له ګناهونو څخه توبه وکړي، دچا مال یې په تیرې اخستی وي، هغه ورته وزکړي ،په چا چې څه ډول تیری شوی وي، له هغه

څخه بخښنه وغواړي، کوم پورچې يې په ذمه پاته وي، هغه اداء کړي يا دورکولو کوم انتظام وکړي.

علماء ليکي :که په چا باندې ظلم درڅخه شوی وي يا دي په ذمه باندې کوم حق وي، هغه يو پور غوښتونکي دی، هغه درته وايي ته چيرته ځي؟ تا په داسي حال کې دکائناتو دپاچا په دربار کې دحاضرېدلو اراده کړي ده چي، ته دهغه مجرم يي. دهغه حکم دي ضايع کړی دی، له حکم څخه دګرځيدلو په حال کې هلته حاضرېږي. نه، وويرېږه چي هغه به تا رد او بيرته راشاته کړي. که ته دمقبوليت هيله لري، له دې ظلم څخه توبه وباسه او بيا حاضر شه. امر منونکی شه او بيا ورسه، کنه ستا داسفر به له پيل څخه ستونزمن وي او دپای په اعتبار به دمردود کيدلو وړ وي.

همداسي دتللو په مهال، دخپلي سيمي له ملګرو، عزيزانو او دوستانو سره ليدل کتل او ورسره خدای په اماني کول. له هغوی څخه دځان په هکله ددعا غوښته، دخير سبب ګرځي.

(فتاوی رحيميه ج ۱۰ ص ۱۸۰)

مسئله : دحج په سفر تر تللو وړاندې، خپل نيت دخدای تعالی او دآخرت دثواب لپاره خالص کړئ.

مسئله :دچا که درباندې کوم مالي حق پاته وي او هغه مړ شوی وي، هغه يي وارثانو ته ورکړه .يايي له هغوی څخه بخښنه وغواړه. که دحق ښتنان ډېر وي، دهغوی ځای ځايګی معلوم نه وي، نو هغومره شی چي په تا يي پاته وي

دهغوی له لوري صدقه کړه. که مو په لاس یا ژبه ورته ضرر رسولی وي، ډیرې دمغفرت دعاوي ورته کوئ. انشاء الله دهغوی دحق دوبال څخه به خلاص شئ.

مسئله: که تر بلوغ وروسته قضا شوي لمنځونه، روژې او زکات دومره وي چې دحج او عمرې تر سفر وړاندي یې پوره کولای نشوای، یا دخلکو حقوق دومره ډیر وي چې دهغو ټولو بخښنه غوښتل یا اداء کول، داوخت کیدلای نشي. نو دومره وکړئ چې دهغوی داداکولو قصد له همدې شیبې څخه وکړئ. څومره چې یې ادا کولای شئ، هغه اداء کړئ او کوم چې پاته کیږي، دهغوی لپاره یو وصیت ولیکئ، خپل یو دوست یا خپلوان دځان وصي کړئ چې که تاسو په ژوند اداء نه کړای شوای، وروسته به یې هغه اداء کړي.

(احکام حج، مفتي محمد شفیع، ص ۲۳، کتاب الفقه ج۱ ص ۱۰۹۴)

دعمرې فضائل

حج داسلام یو ستر رکن دی، داسلام دتکمیل اعلان په حجة الوداع کې وشو او په حج سره داسلام ارکان تکمیل شول. په پاکو حدیثونو کې دحج او عمرې فضائل ډیر زیات بیان شوي دي. په یوه حدیث کې راځي:

{چا چي دالله تعالی درضاء لپاره حج وکړ په هغه کې نه فحش خبره وکړي او نه پکې نافرماني وکړي، هغه داسي (له گناهونو څخه) پاکیږي لکه دپیدا ښت په ورځ چي پاک وي.}

په یوه بل حدیث کې دي: {له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه، تر ټولو افضل عمل کوم یو دی؟ ویې ویل: په الله او دهغه په رسول ایمان راوړل. عرض یې وکړ: بیا کوم یو؟ ویې ویل: دالله جل جلاله په لاره کې جهاد کول. عرض یې وکړ بیا؟ ویې ویل: مبرور حج. تر یوې عمرې وروسته بله عمره دهغوی په منځ کې دګناهونو کفاره ده او دمبرور حج بدل پرته له جنت څخه بل څه کیدلای نشي.}

په یوه بل حدیث کې راځي چې حج سړی له ګناه څخه داسې پاکوي لکه داوربټۍ چې سره او سپین زر له خیرو څخه پاکوي.

ددې مبارک سفر په دوران کې، له ګناهونو څخه پرهیز وکړئ او په ټول عمر کې له ګناه څخه دځان ساتلو هوډ وکړئ او په دې هکله، له الله تعالی څخه ځانګړې دعاوې وغواړئ. داخبره په یاد ولرئ چې دقبول شوي حج نښه داده چې تر حج وروسته، دانسان په ژوند کې بدلون راځي. څوک که تر حج کولو وروسته فرائض پریږدي او دناوړو کارونو ارتکاب کوي، دهغه حج قبول شوی نه دی.

تاسو ته ښه داده چې ډیر وخت په حرم کې تیر کړئ، له ډیرې اړتیا پرته دبازارونو له ګرځیدلو څخه ډډه کول مناسب دي. ددنیا سازوسامان، تاسو ته ګران یا ارزانه، ښه یا بد په خپل هیواد کې هم موندل کیدلای شي. خو هغه نیک مرغي چې په حرم کې پیدا کیږي، هغه دنړۍ په کوم بل ځای کې نه موندل

داچې په حج کې دنړۍ له ګوټ، ګوټ څخه د مختلفو ملکونو خلک سره یوځای کیږي، له دې امله که چا څه عمل کاوو ، دهغه په لیدلو سره په هغه پیل مه کوئ. بلکې پلټنه کوئ چې، ایا داعمل له خپل حنفي مذهب سره سم هم صحیح دی او که نه دی؟ مثلاً ، دلته یوه مسئله یادوو: دسهار تر لمانځه وروسته بیا تراشراق پورې اودمازدیګر تر لمانځه وروسته، دلمر تر ډوبیدلو، دطواف دوه رکعتونه اداء کول اجازه نشته. همداسې په مکروه وختونو کې یې هم اجازه نشته. خو ډیر کسان نورو ته ګوري اوکوي یې. لنډه داچې یوازې خلکو ته په کتلو کوم کار مه کوئ. له علماوو څخه دمسائلو پوښتنه کوئ. (آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ۴ - معارف القرآن جلند ۱ ، معارف الحدیث ج ۴ کتاب الحج، الترغیب والترهیب ومظاهرحق جدید ، علم الفقه ج ۵ کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ج ۱ کتاب الحج وفضائل.)

رسول الله صلی الله علیه وسلم وائي: {حج اوعمره یوځای وکړئ، ځکه دا دواړه، لاس تنګې او ګناوې داسې لرې کوي لکه بټۍ چې له اوسپنې، سرو او سپینو زرو څخه خیرې پاکوي.}

له دې مبارک حدیث څخه داڅرګندیږي چې، په حج او عمره یوازې ګناه نه پاکیږي، بلکې دهغوی په برکت له انسان څخه بیوزلي او لوږه هم لرې کیږي او په حج او عمره سره سړی له ښکاره او پټو ،دنیایي او اخروي برخو برخمن کیږي. خو

داخلاص په ملګرتیا.

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت شوی دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په رمضان کې عمره له یوه حج سره برابره ده. په یوه روایت کې راځي چي له هغه حج سره برابره ده چي له ما سره یې کړی وي.

په حدیث شریف کې داهم وائي: حج او عمره کوونکي دالله تعالی میلمانه دي، که هغه له الله تعالی څخه هره دعا وغواړي، هغه منله کیږي او که دچا خطاوي وبخښې، الله تعالی دهغه خطاوې بخښي. (معلم الحجاج ص ۲۰۸، معارف القرآن، معارف الحدیث، الترغیب والترهیب ومظاهر حق جدید)

په رمضان المبارک کې عمره کول

مسئله: دحج له ورځو (دذی الحجي له نهمې تر دیارلسمې) پرته چي عمره پکښې ناجائزه او منع ده، نور په ټول کال کې، که تو ان وي عمره کیدلای شي. خو په رمضان المبارک کې، داعمالو ثواب او یا برابره ډیر وي او په بخاري شریف کې یو مبارک حدیث دی چي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: {په رمضان المبارک کې عمره له پوره حج سره برابره ده.} (بخاري شریف ج ۱ ص ۲۳۹، مسلم شریف ج ۱ ص ۴۰۹)

مسئله: څوک چي دتمتع حج کوي، هغه ته ترحج وړاندې دشوال له پیل، ذې قعده او دذي الحجي په لومړنۍ عشره کې بیا، بیا عمره کول، پرته له کراهت څخه جائز ده. یعني تریوې عمرې وروسته ترحج وړاندې بله عمره کولای شي.

(معلم الحجاج ص ۲۲۱ ورحمة الله الواسعه ج ۴ ص ۱۸۳)

مسئله :دځيني علماوو په نظر، که متمتع دعمرې له ارکانو فارغ شي، که بيا عمره وکړي نو تمتع يې باطليږي اوکله چي دړيمه عمره وکړي نو په هغې سره تمتع کيدلای شي. يعني څومره عمري چي کوي په اخري باندي يې تمتع صحيح کيږي. (فتاوای محموديه ج ۱۲ ص ۱۸۳)

مسئله :دمکې مکرمې هستوګنو ته دحج له ورځو پرته نور په ټول کال کې عمره جوازلري ،پرته له کراهت څخه ورته جوازلري. (غنية المناسک ص ۱۵۵)

عمره څه شی دی؟

دعمرې لغوي معنی زيارت دی. لکه څوک چي دچا زيارت وکړي وايي "اعمره" يعني ما دهغه زيارت وکړ. دشرع په اصطلاح کې، له هغې څخه مقصدپه ځانګړې طريقه سره دکعبې مبارکې زيارت کول ،يعني له ميقات يا حل څخه احرام تړل، دبيت الله طواف او سعی کول دي.

مسئله :داحنافو په نزد، دقدرت په صورت کې، په عمر کې يوځل عمره کول مؤکد سنت ده ،فرض نه دی. ځکه درسول الله صلی الله عليه وسلم مبارکه لاربنوونه ده :

{الحج مکتوب والعمرة تطوع.}

[حج فرض دی او عمره تطوع (نفلي عبادت) ده.]

دالله تعالی لاربنوونه : { وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ} تر پيل کولو وروسته دبشپړولو لپاره حکم دی، که هر عبادت ...

شي نو بشپړول يې واجب دي، که څه هم هغه نفلي عبادت وي. په دې آيت شريف کښې دعمرې دفرضيت استدلال کيدلای نشي.

پاته شوه دحج دفرضيت خبره، هغه دالله تعالی له ارشاد څخه ثابت دی: { وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ.} له دې سره نور دلائل هم شته چي دحج په بيان کې وويل شول.

له ابورزين الغقيلي څخه روايت دی چي، نوموړی درسول الله صلی الله عليه وسلم حضور ته راغی، ويې ويل : زما پلار سپين ږيری دی، نه حج کولای شي او نه هم عمره او نه هم دسفرکولو وړ دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته لارښوونه وکړه :

" دپلار له لورې ته حج او عمره وکړه."

داحديث شريف بخاري ،مسلم ،ابوداود ،نسائي او ابن ماجه روايت کړی دی ، او ترمذي صحيح بللی دی.

(کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۱۲۳)

مسئله : په رمضان المبارک کې، په عمره کولو ډير تاکيد له دې کبله دی چي، له ابن عباس (رضی الله عنهما) څخه روايت دی : {عمرة في رمضان تعدل حجة}

(په رمضان المبارک کې عمره دحج برابره ده.}

(کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۱۲۷- معلم الحجاج ص ۲۰۶، مظاهرحق ج ۳ ص ۲۶۲)

مسئله : که له عمرې څخه وروسته، حلال شي او دميقات ترحدودو بهر ووزي، نو ديا راتګ په مهال احرام ضروري

دی. که دمیقات ترحد بهر ونه وزي، بیا د احرام ضرورت نشته.(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۲۶)

مسئله :دعمرې په احرام کې تر سعی کولو وروسته، قصر یا حلق (ویښتان خرپیل یا کوچني کول) کیږي. (معلم الحجاج ص ۱۷۷)

مسئله :ډیري عمري کول مکروه نه دي، بلکې غوره دي، ډیر طواف کول تر ډیرو عمرو غوره دی.(معلم الحجاج ص ۱۷۷)

مسئله :په عمره کې دعمرې تر طواف پوري تلبیه ویل کیږي. (معلم الحجاج ص ۱۰۴)

دعمرې او حج تر منځ څه توپیر دی؟

مسئله :دعمرې دسنت یا واجب کیدلو شرایط دحج په څیر دي.داحرام احکام یې هم دحج داحرام په ډول دي . کوم شیان چې هلته حرام ، مکروه ،سنت یا مباخ دي ،هغه دلته هم دي. خو په دې شیانو کې دحج او عمرې ترمنځ توپیر شته ، دحج لپاره یو خاص وخت دی ،عمره له پنځو ورځو (دذې الحجې له نهم تر دیارلسم) پرته چې په کې تحریمي مکروه ده، نور په ټول کال کې کیدلای شي.

حج فرض دی. عمره فرض نه ده . حج قضاء کیدلای شي خو عمره فوت نلري. په حج کې دعرفات او مزدلفې وقوف ، د لمونځونو یوځای والی او خطبه شته. په عمره کې دا شیان دواړه نشته. په حج کې دقدوم او وداع طوافونه دي . په عمره کې دا پکې وشي، دپسه حلالول کافي دي. خو دحج لپاره دا کافي

نه دي. دعمري لپاره ميقات دټولو خلکو لپاره حل دی، خو دحج لپاره داسي نه ده ، ذ مکې مکرمي خلک دحج احرام په حرم شريف کې تړي. خو داطراف اشخاص يا که څوک له بهر څخه دعمرې په اراده راځي نو له خپل ميقات څخه حرام تړي. په عمره کې دطواف له پيل څخه تلبيه بنديږي، خو په حج کې دوروستنی جمرې دويشتلو په پيل پوري موقوفه شوي ده.
(معلم الحجاج ص ۲۰۴ ، مظاهر حق ۳ ص ۲۷۰)

مسئله : کـه داطـراف شـخص، دعـمـرې پـه اراده مکـې مکرمي ته راځي نوله خپل ميقات څخه به دعمرې احرام تړي .

مسئله :دمکـې مکرمـي دهستوګنو لپاره دعمـرې لپـاره داحرام تړلو ميقات حل دی. دحل سيمي ته به ځي، چيرې چي غواړي احرام دې وتړي ،خوغوره تنعيم (دعائشي (رضی اللہ عنها) مسجد) دی يا دې تر هغه بهر له جعراني سره احرام وتړي.
(معلم الحجاج ص ۲۰۷)

دعمرې مناسکو ته يوه کتنه

احرام–طواف له رمل او اضطباع سره–سعی اوسرإخرييل.

دحج په مياشتو کې عمره کول

پوښتنه :يو څوک دحج په مياشتو کې لاړ، عمره يې وکړه او دحج تر وخته هلته پاته شو. آيا دی په همدې دوران کې نوري عمرې کولای شي؟

جواب : دتمتع دحج کوونکي لپاره،دحج او عمرې تر منځ عمره کول جائز دي.(آپ کي مسائل ج ۴ ص۵۱)

مسئله: داطراف دهستوګنو لپاره، دحج په میاشتو کې تر یوې زیاتې عمرې جایز دي. دتمتع دحج کوونکو لپاره هم تر یوې عمرې وروسته تر حج وړاندې بله عمره کول جواز لري.
(فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۲۹۷ آپ کې مسائل ج ۴ ص ۵۰)

دعمرې لپاره مکروه ورځې

مسئله: دعرفې (ذي الحجې نهمه) له ورځې بیا تر دیارلسمې پورې، داپنځه ورځې دحج لپاره دي. په دې ورځو کې دعمرې اجازه نشته. له همدې امله په دې ورځو کې عمره کول تحریمي مکروه ده. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۵۰)

تر احرام تړلو وروسته که عمره ونکړای شي

پوښتنه: مادعمرې لپاره احرام وتاړه. خو دطبعیت دخرابې له امله مې عمره اداء نکړه او دعمرې له اداء کولو پرته مې احرام خلاص کړ، زما لپاره حکم څه دی؟

جواب: په تا باندې داحرام دخلاصولو له امله دم (داحرام په حدودو کې دیوه پسه ذبح کول) واجب دي اودعمرې قضاء هم لازمه ده. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۵۰)

ایا دحج په میاشتو کې دجدې هستوګن عمره کولای شي؟

پوښتنه: موږ په جده کې دکار لپاره هستوګند لرو، ددې ځای دخلکو په وینا، موږ حل والایو. یعني تر حرم بهر د میقات دننه مقیم یو. دوی وایي: دحل خلک دحج په میاشتو کې عمره کولای نشي، آیا داسمه ده؟

جواب: که مو همدا کال دحج اراده وي، بیا عمره کول

مکروه ده .خو که دحج اراده نه وي بيا مکروه نه ده.
مسئله :دمکې مکرمې هستوګن يا هغه چې ددوی حکم لري، يعني دميقات دننه (يا په ميقات کې) او هغه هستوګن چې دحج تر مياشتو (شوال ، ذي قعده او دذي الحجي لومړی لسيزه) وړاندي، دمکې هستوګن وي او هغه داسي چي اطرافي دحج تر مياشتو وړاندي حلال وي، په مکه کې هستوګن وي بيا وروباندي دحج مياشتې راغلي نو هغه ته دحج په مياشتو کې عمره کول مکروه دي. خو چي همدا کال حج کول غواړي او که همدا کال حج نکوي نو دوی ټولو ته عمره کول مکروه نه دي. که همدا کال دحج اراده لري او عمره وکړي، نو دم وروباندي جبري لازميږي.
(فتاوی رحيميه ج ۵ ص د ۲۲۲ شامي ج ۲ ص۲۰۸ په حواله-زبدة المناسک ج ۱ ص ۲۵۵ درمختار مع شامي ج۲ ص ۲۷۰)

دحج په ورځو کې عمره کول

مسئله : عمره په ټول کال کې جائز ده . يوازې پنځه ورځي (ذي الحجه ۱۰- ۱۳) ورته احرام تړل تحريمي مکروه دي. که په دې ورځو کې ورته احرام ونه وشل شي، بلکې وړاندي احرام تړل شوي وي، بيا مکروه نه ده. مثلاً چا مخته لا احرام تړلي و ، راغی او حج يې ونکړ. که هغه په دې ورځو کې عمره وکړي ورته مکروه نه ده. خو دهغه لپاره مستحب داده چي تر دې پنځو ورځو وروسته دې عمره وکړه.
(فتاوی رحيميه ج ٦ ص ۴۰۵ -معلم الحجاج ص ۲۲۳)

مسئله: که چا په همدې پنځو ورځو کې، دعمرې لپاره احرام وتاړه. داحرام تړلو له امله وربانديې عمره واجبيږي. خو داچې په دې ورځو کې داحرام تړل مکروه دي، له همدې امله وربانديې دعمرې پرېښودل واجب دي، ترڅو له ګناه څخه ساتلى وي. دهمدې ورځو تر تيريدلو وروسته دي قضاء راوړي او دم (وينه) وربانديې واجبيږي. که يې عمره ترک نه کړله او په همدې پنځو ورځو کې يې وکړه، عمره يې کيږي خو دکراهت له امله وربانديې دم اوړي او که يې په همدې ورځو کې ورته احرام وتاړه خو عمره يې دتشريق تر ورځو وروسته وکړه، عمره يې کيږي او دم هم وربانديې نه اوړي. خو داسې کول مکروه دي. ځکه په داسې صورت کې داحرام خلاصول واجب دي. (معلم الحجاج ص ۲۰٦)

دحج په مياشتو کې په عمره کوونکي باندې حج

پوښتنه: شوال، ذي قعده او ذي الحجة دحج مياشتې دي، که په دې مياشتو کې څوک عمره وکړي، آيا ورته ضروري ده چې حج هم وکړي؟

پوښتنه: که زه په شوال يا ذي قعده کې عمره وکړم او بيرته راشم (داحرام له حدودو ووزم) او بيا دحج په وخت دمفرد حج. دتمتع دحج لپاره به بيا عمره کيږي او که لومړنۍ کفايت کوي؟

جواب: اطرافي سړی (هغه چې له ميقات څخه بهر ...

لکه هندي، پاکستاني، مصري، افغانستاني، ایراني او نور) که دحج په میاشتو کې عمره وکړي، خپل هیواد ته لاړ شي. دحج یا عمرې لپاره ورته دبیا راتلو ضرورت نشته. که دی همدا کال حج کوي هم دغسې د لومړنۍ عمرې له کبله متمتع کیدلای نشي او نه وربانديې دتمتع دم لازمیږي. که همداسې شخص تمتع حج کول غواړي بیا به دعمرې احرام تړي او راځي به.(آپ کې مسائل ج ۴ ص ٦٧)

تر عمره وروسته څرنګه حج کیږي؟

سوال: ما دشوال په میاشت کې یوه عمره وکړه، بیا مې د حج اراده وکړه، دهغه نیت به څرنګه کیږي او دا حج به کوم ډول ږي؟

جواب: نیت خو داسې دی لکه دعمرې لپاره بیل او دحج لپاره بیل چې کیږي. مسائل یې هم هغه دي. خو دا حج تمتع کیږي. دذي الحجې په لسمه تر سرخرپیلو وړاندې قرباني لازمیږي چې هغې ته دتمتع دم وایي.(آپ کې مسائل ج ۴ ص ٦٦)

مسئله: دتمتع حج په کوونکي باندې دقدوم طواف واجب نه دی، تر عمرې وروسته چې څومره طوافونه یې زړه غواړي هغومره نفلي طوافونه کولای شي.(معلم الحجاج ص ۲۲۱)

ایا عمره دحج بدل ده؟

مسئله: اروپا او امریکا ته دتلونکو، راتلونکو، کـه د عمرې نیک مرغي په برخه کیږي، نو عمره دې کوي، خو عمره دحج بدل نه ده. په چا که حج فرض وي، هغه ته حج کول ضرور دی، یوازې د عمرې په اداء کولو دُحج فرض نه اداء کیږي.

دکار لپاره سفر او عمره ؟

پوښتنه : مونږ دکار او خدمت په لړکي، دسعودي عرب جدې ته ځو او بيا يو زر ميله لرې کار کوو ، نو مونږ په پيل کې عمره وکړو او که وروسته ؟

جواب : دا چي سفر مو دعمرې لپاره نه دی ، بلکې دکار لپاره دی . نو کله چي وغواړئ عمره وکړئ.

ستاسو لپاره لومړی عمره کول ضروري نه ده، په تيره بيا هغه مهال چي تاسو ته دمکې مکرمې دتللو لپاره اجازه ترلاسه کول هم ستونزمن وي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۵۱)

دعمرې ثواب څرنګه دمړو لپاره کيدلای شي؟

پوښتنه : زه دخپلي مرحومې مورله لورې عمره کول غواړم ، عمره له خپل لوري وکړم ثواب يي ورته وبخښم او که عمره دهغې له لوري وکړم ؟

ځواب : دواړه صورتونه يي سم دی. تاسو ته اسانه داسي ده چي له خپله لوري عمره وکړي او ثواب يي ورته وبخښئ. که دهغې له لوري عمره کيږي بيا د احرام ترلو په مهال داسي نيت کيږي: زه دخپلي مور لپاره دعمرې دکولو احرام تړم ، يا الله! دا عمره راته اسانه کړي او زما دمرحومې مور له لوري يي قبوله کړي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۵۱)

مسئله : که څوک دعمرې دکولو په مهال په زړه کې داسي نيت وکړي چي زما ددې عمرې ثواب دې فلاني خپلوان يا

دوست (ژوندي . مړه) ته دې ورسيږي، هغه ته رسيږي لکه څرنګه چې دنورو نيکو کـــارونو دثواب بخښلو نيت کيږي د عمرې دا هم هغسې کيدلای شي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۵۱)

مسئله: عمره دژوندي له لوري هم کيدلای سي، دچا له لوري چې کيږي په هغه باندې حج تر هغه نه فرضيږي، څو چې قدرت ونلري. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۳۶)

مسئله: نفلي عمره دلمانځه په څير ده. تر يوه زيات کسان په ثواب کې شاملولای شي. خو که دځو کسانو له خوا له تيا څخه دعمرې کولو غوښتنه وشي چې زما له لوري عمره وکړه نو هره يوه ته به بيله، بيله عمره کيږي. (فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۲۲۶)

دعمرې شرائط

مسئله: دعمرې لپاره هغه شرائط دي کوم چې دحج لپاره دي. دعمرې لپاره يوازې يو رکن دی. (هغه دطواف دګرځيدلو ډير شمير) يعني څلور ځله ګرځيدل دي. احرام تړل رکن نه دی، بلکې هغه شرط دی. دصفا او مروه ترمنځ سعي کول واجب دي. دويښتانو کمول يا خرييل هم دغسې دی يعني واجب دی خو رکن نه دی. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۱۲۳)

مسئله: عمره يوازې درې کارونه دي:

۱- داچې له ميقات ياتر هغه مخته احرام وتړل شي.

۲- مکې ته په رسيدلو دکعبې طواف کول.

۳- دصفا او مروه ترمنځ سعی کول او وروسې سر کمول يا خرييل او داحرام خلاصول.

دعمرې فرائض او واجبات

مسئله :په عمره کې دوه شيان فرض دي : يو احرام او بل طواف . داحرام لپاره نيت او تلبيه دواړه فرض دي. دطواف لپاره نيت فرض دی . دصفا او مروه ترمنځ سعي کول، سر کمول يا ويښتان خرييل واجب دي .(معلم الحجاج ص ۲۰۵)

دعمرې لپاره احرام له کوم ځايه تړل کيږي؟

پوښتنه : ۱- که څوک دحج په اراده لاړ نسي. بلکې يوازې دعمرې اراده وکړي او کـه سړي اطرافـي هم وي دحرم له حدودو څخه بهر مثلاً په جده کې احرام تړلای شي کنه ؟

۲- په جده کې تريو دوو ورځو هستوګني ورو سته، که دعمرې اراده وکړي هغه اهل حل بلل کيږي؟

ځواب : څوک چي له بهر(حل) څخه مکې مکرمې ته د تللو اراده وکړي ، هغـه تـه لـه ميقات څخـه پرتـه لـه احرامه تيريدل جائز نه دی. بلکې دحج يا عمرې احرام تړل وربانـدي لازم دي. که له احرام څخه پرته تيرشي ، دميقات لور تـه دي بيرته راګرځي. له ميقات څخه داحرام تړل ضروري دي کـه پـي ونه تړي نو دم وربانـدي اوړي.

۲- څوک چې دمکې مکرمې په قصد له کوره ووزې، په جده کې په يو دوو ورځو پاته کيدلو سره دحل په اهل کې نه شميرل کيږي. خو کـه دچا اراده جدي تـه تلـل وي، هلتـه بانـدې داهل حل اطلاق کيـږي ، نو پـه هغـه

دپوهيدلو لپاره داځو اصطلاحات په ياد ولرئ :

۱- ميقات : دمکې مکرمې په اطراف کې ځو ځايونه معلوم شوي دي ، له بهر ځخه که ځوک مکې مکرمې ته ورځي له هغه ځايه به احرام تړي ، پرته له احرام ځخه يي له هغه ځايه تيريدل منع دي.

۲- افاقي (اطرافي) :هغه شخص چي له ميقات ځخه بهر اوسيږي.

۳- حرم :دمکې مکرمې حدود ، چيري چي ښکار کول، وني غوځول او نورځه منع دی.

۴- حل : تر حرم بهر او دميقات دننه سيمه حل بلله کيږي.

(فتاوی رحيميه ج ۵ص ۲۱۸ ،آپ کې مسائل ج ۴ ص ۹۲)

مسئله : کوم خلک چي په ميقات کې دننه هستوګنه لري، هغوی دحج يا عمري احرام تر حرم بهر هرچيري چي وغواړي تړلای شي. دحل ټوله سيمه دهغوی په حق کې ميقات دی.

(فتاوی رحيميه ج ۵ص ۲۲۳)

له طائف څخه پر ته له احرامه عمره کول

پوښتنه: کوم کسان چي په جده او طائف کې ملازمت لري، که هغوی دعمرې په نیت کعبې شریفي ته ځي، له میقات څخه به احرام تړي. دلته دهستوګنو خلکو چي پرته له احرام څخه طواف وکړي څه حکم لري؟

جواب: ستاسو سوال خورا مهم دی. په دې هکله څو مسئلي په ښه توګه په یاد ولرئ:

۱- دمکې شریفي څلورو لورو ته څه سیمه حرم بلله کیږي، هلته ښکار کول او ونې غوڅول منع دي. ترحرم وړاندي په کمه زیاته فاصله کې څه ځایونه معلوم کړل شوي دي چي هغوی میقات بولي. دلته حاجیان احرام تړي.

۲- کوم کسان چي دحرم په سیمه کې هستوګنه لري یا دمیقات دننه اوسیږي، هغوی چي کله هم وغواړي مکې مکرمې ته له احرام څخه پرته تلای شي. خو کوم کسان چي له میقات څخه بهر راځي. په هغوی باندې په میقات کې دحج یا عمرې احرام تړل لازم دي. ګواکې په داسي سړي باندي حج یا عمره لازمیږي، که څه هم هغه شخص دحج یا عمرې په نیت مکې مکرمې ته نه ورځي، بلکې کوم ضروري کار ته ځي یا یوازې په حرم کې دجمعې لمونځ کوي یا یوازې دطواف لپاره ځي.

لنډه دا چې که دهر مقصد لپاره مکې مکرمې ته ځي هغه له میقات څخه له احرامه پرته تللای نشي.

۳- که څوک له میقات څخه پرته له احرامه تیرشي، په هغه لازمه ده چي ترڅو مکې مکرمې ته ترننوتلو وړاندي بیرته میقات ته راوګرځي او هلته احرام وتړي.

۴- که هغه بیرته نه راوګرځي دم ورباندي واجبیږي.

۵- که څوک له میقات څخه پرته له احرام تړلو مکې مکرمې ته لاړ شي، په هغه باندې حج یا عمره لازمیږي، که هر څومره ځلي له احرامه پرته تر میقات تیر شي هغومره واري حج یا عمره ورباندي لازمیږي.

له دې مسائلو څخه معلومیږي چي کوم خلک له میقات څخه بهر هستوګنه لري، یوازې د طواف لپاره مکې مکرمې ته تلای نشي، بلکې هغوی ته ضروري ده چي له میقات څخه دعمرې احرام وتړي او داهم څرګنده شوه چي که هرڅومره واري پرته له احرام څخه ورشي، هغومره دم او هغومره عمري ورباندي واجب دي.

٦- جده له میقات څخه وتلي نه ده. نو ځکه له جدې څخه مکې مکرمي ته پرته له احرام راتګ صحیح دی. خو طائف له میقات څخه وتلی دی، نو ځکه له هغه ځای څخه پرته له احرامه راتګ صحیح نه دی.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص۹۵، احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۱۷، کتاب الفقه ج

په يوه احرام کي څو عمري کيدلای شي؟

پوښتنه :زه غواړم پنځه عمري وکړم ، ددې عمرو لپاره دحرم له حدودو څخه بهر تنعيم يا جعرانه ته ځم، احرام تړم. ايا پنځه ځلې يعنې هري عمرې ته بيل ، بيل اوکه يو ځل احرام وتړم. په يوه ورځ کې يوه عمره وکړم يا په همدې احرام کې په يوه ورځ کې دوه يا دري عمري کولای سم؟

ځواب :هرې عمرې ته بيل احرام تړل کيږي. احرام به تړي طواف او سعي به کوي ،ويښتان به خريي او احرام به خلاصوي. يا به تنعيم يا جعراني ته ځي بيا به احرام تړي. په يوه احرام تريوې ډيرې عمرې کيدلای نسي. او ترعمرې (طواف او سعی) وروسته که ويښتان لنډ يا ونه خرييل شي او احرام خلاص نشي، ددوهمې عمرې لپاره احرام تړل جواز نلري.

مسئله :که څوک عمره وکړي ، مدينې منورې ته لاړ شي، مازديګر او ماښام لمنځونه هلته وکړي، بيا ترميقات تيرشي، جدې ته لاړ شي، شپه تيره کړي سهار بيا مکې مکرمې ته لاړ شي او دمکې دتللو قصد يې ؤ نو په ميقات ورته احرام تړل ضروري ؤ او دهغه دکفاري لپاره ورباندې دم لازم دی. خو که يې دجدې دتللو اراده وه ،دلته يې بيا دعمرې اراده وکړه نو دم ورباندې لازم نه ده.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۹۵ ، فتاوی رحيميه ج ۸ ص ۲۹۰)

دعمرې کولو طريقه

عمره وړوکی حج دی. هر وخت کيدلای شي. دحج له ورځو پرته چي نه پکښې کيږي، نورکومه مياشت او ورځ ورته ځانګړې نه ده. هر وخت چي غواړي له ميقات يا حل څخه احرام تړل کيږي، داحرام له محرماتو او مکروهاتو څخه ځان وساتی، په مکه مکرمه کي يي اداب وساتي، مسجد حرام ته دباب السلام يا باب العمرة (يا له هرې دروزي چي موقع وه) ننوزئ. اضطباع وکړئ يعني تر ښی اوږې څادر لاندې کړئ او په چپه اوږه يي واړوئ، طواف وکړئ او چي لومړی توري پټي ته ودريږي دحجر الاسود استلام وکړئ يعني دهغې لور ته په لاس سره اشاره وکړي او تلبيه ويل چي يي داحرام تړلو په مهال پيل کړي وه، هغه بنده کړي. په طواف کې رمل وکړي يعني دطواف په دريو لومړنيو ګرځيدلو کې، اوږي پورته غورځوي، نژدې نژدې قدمونه کښيږدي او څه ګړندی لاړ شي (يوازې دسړو لپاره) داهلته چي ازدحام نه وي او په تنګ کې ستونزه نه وي، کنه يا چي څرنګه موقع برابره وه هغسې دې طواف وکړي. ترطواف وروسته دوه رکعته نفل وکړي، حجر الاسود ته دتير په څير په لاس سره اشاره وکړي. له باب الصفا څخه ووزئ. دحج په څير سعي وکړئ. وروسته په دکان يا کوټه کې ويښتان غوڅ کړي. ځان حلال کړي. يعني عام کالي واغوندي او داحرام قيود پای ته ورسوي. تر سعی وروسته هم دوه رکعته نفل کول مستحب دی. بس عمره وشوه. (معلم الحجاج ص ۲۰۴)

يادونه: ترطواف وروسته دوه رکعته نفل کول واجب او تر سعی وروسته مستحب دي.

د عمرې تر فراغت وروسته تر حلق وړاندې جامې اغوستل

پوښتنه: ما په وروستنۍ ورځ چې کله عمره وکړه، د الوتکې دالوتو عجله مې وه، په دې ېېره کې مې د عمرې له فراغت وروسته، لومړې احرام خلاص کړ، جامې مې واغوستلې، بیا مې حلق وکړ (ویښتان مې غوڅ کړل) ددې حکم څه دی؟

ځواب: ددې غلطۍ له امله دربانديې دم نشته. خو د فطر د صدقې (سرسايي) په اندازه دربانديې صدقه لازمه ده. دا صدقه هرځای ورکول کیدای شي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۰۳)

مسئله: په عمره او حج دواړو کې، دویښتانو خریيل غوره دي. خو د حج تر اعمالو که څه وړاندې عمره وشي بیا یې غوڅول غوره دي ترڅو په حج کې وخریيل شي. داځکه چې حج تر عمرې غوره دی.

نو بهتر کار په بهتر وخت کې مناسب دی. که عمره د حج تر ورځو ډیره وړاندې وي، بیا دې سر وخریيل شي ترڅو یې فضیلت تر لاسه شي. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د سر خریيونکو لپاره درې ځله د مغفرت دعا کړې ده. او د ویښته غوڅوونکو لپاره یې یوازې یو ځل دعا کړې ده، نو ځکه ویښتان خریيل غوره دي. (حج بیت الله کې اهم فتاوی ص ۹۵)

****

په عمره کې دوداع دطوف حکم څه دی؟

پوښتنه: په عمره کې آیا دوداع طواف واجب دی؟
ځواب: په عمره کې دوداع طواف واجب نه دی. خو افضل او غوره دی، که څوک دوداع له طواف څخه پرته ولاړشي هم کومه خبره نشته. په حج کې دوداع طواف واجب دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وائي: {له تاسو څخه دي څوک هم تر هغه نه روانیږي ترڅو یې دبیت الله طواف کړی نه وي.}
(په دې خبره حجاج مخاطب وو)
(حج بیت الله کې اهم فتاوی ص ۵٦، آپ کي مسائل ج ۴ ص ۱۰۹)

مسئله: دعمرې طواف پوره، ډیر یا کم دی. که څه هم یو ځل کړځیدل وي. که جنب، حائضي، نفاسي، یا بې اودسه طواف وکړ دم (وینه) واجب ده. خو که طواف راوګرځوي نو دم ساقطیږي.

مسئله: دعمرې کولو دواجب په ترک کولو بد نه (اوښ) غوبې یا صدقه نه واجبیږي. بلکې یوازې دم (یو پسه یا دغوایي یا اوښ اوومه برخه) واجبیږي. خو دعمرې د احرام دممنوعاتو په ارتکاب سره، دحج داحرام دممنوعاتو دارتکاب په څیر دم یا صدقه واجبیږي. (احکام حج ص ۱۰٦)

****

په عمره کې په عرفات دنه وقوف لامل

پوښتنه: دحج اساسي ارکان دوه دي: دعرفات دریدل او دزیارت طواف او بیا سعي کیږي. عمره وړوکی حج دی. نو په هغې کې ولې یوازې طواف او سعی دي؟ په عرفات دریدل ولې پکې نشته؟

ځواب: په عمره کې دعرفات دریدل ځکه مشروع شوي نه دي چې، دهغې وخت ټاکلی نه دی. دحج له ورځو پرته، په ټول کال کې کیدلای شي. له همدې امله دعرفات په میدان کې دیوځای دریدلو هیڅ صورت نشته او په ځانګړې توګه په دریدلو کې کومه ګټه نشته.

او که داسې وویل شي چې دحج په څیر که عمرې ته هم وخت ټاکل شوی وای، څه مشکل ؤ؟

ددې جواب دادی چې بیا نو عمره چیرې پاته کیدله، هغه خو به حج ؤ.

او که په کال کې دوه ځله حج ته خلک غوښتل شوی وای نو دهغه ستونزې خو له چا پټې نه دي.

اصل خبره داده چې په عمره کې مقصود، دبیت الله تعظیم او دالله تعالی دنعمتونو شکر په ځای کول دي او دا مقصود دطواف په کولو ترلاسه کیږي. نو له همدې امله دعرفات په میدان کې درایوځای کیدلو اړتیا نشته.

(رحمة الله الواسعه ج ۴ ص ۲۱۲)

****

دا حرام حکمت

احرام دحج او عمرې لپاره دتحريمي تکبير په څير دی. هغسي چي نيت کيږي، الله اکبر ويل کيږي او لمونځ کوونکي لمونځ پيل کوي او ډير شيان په لمانځه کې هغه ته ناجائز ګرځي، هم دغسي دحج او عمرې احرام او تلبيه دي.

په احرام تړلو سره دبنده دحج او عمرې اراده کلکيږي، د اخلاص او عظمت څرګندونه، دعبوديت او کم وسي صورت غوره کيږي. په ژبه او زړه سره اقرار کيږي، ټول خوندونه او ښکلاوي پريښودل کيږي، يوازې دوې جامي اغوستلي کيږي او سرې دمړو په څير جوړيږي. په دې ځانګړي جامه (احرام) کې داستر حکمت دی چي آمر او غريب، شاه او ګدا د الله تعالى په دربار کې، په يوه جامه کې حاضريږي. چاته دوياړ موقع نه ترلاسه کيږي. شريعت همدا لباس (احرام) خوښ کړی دی. په سادګي، پاکي او اساني کې همدا بې ساري لباس دی. او په طبي لحاظ هم دا ګټور دی.

(معلم الحجاج ص ۱۱۱ ورحمة الله الواسعه ج ۴ ص ۱۸۹)

په احرام کې څه ډول پڼې (څپلکي) پښو کيږي؟

مسئله: موزې او داسي جوړه چي دپښي له بيخ څخه راپورته او له پورته او وتلي هډوکي سره ولګيږي، دا په احرام کې منع دي. که همداسي موزه يا بوټونه يوه شپه او ورځ په پښو شي، دم واجبيږي. تر دې وخت که کم په پښو شي، دفطر دصدقې په اندازه صدقه لازم ... (احکا... ۹۸)

مسئله: ځیني کسان په احرام کې داسې سلیپر یا څپلۍ استعمالوي چې دپښې لاندې هډوکې (هغه چې له لاندې څخه پورته لوړ ته وي) پټوي. داسې بوټونه په احرام کې دسړیو لپاره منع دي، کوم چې هډوکې پکې پټ وي، دد ې دپاره دې دومره برخه غوڅه کړي یا دې مختنۍ برخې ته جامه ورکړي چې هډوکې لوڅ پاته شي.

(معلم الحجاج ص ۳۵۸ - فتاوی دارالعلوم ج ٦ ص ۵۵۵)

لنډه دا چې په احرام کې د دواړو پیډیو او دپښو هغه پاسنۍ برخه چې ویښتان ورباندې راشنه کیږي، خلاص پاته کیدل ضرور دي. نو د احرام په حال کې سړیو ته ښه داده چې څپلکې په پښو کړي. که څپلې یا بوټ داسې وو چې پیډۍ او دپښو پاسنۍ برخه نه پټوي، دهغوی پښو کول هم صحیح دي. که پُندې او ګوتې پنجه پټه وي پروا نلري. (محمد رفعت قاسمي)

داحرام په حال کې دګلانو یا نورو شیانو استعمال

مسئله: تراحرام تړلو وروسته، په غاړه کې دګلانو امیل اچول مکروه دي. په عمومي توګه خلک دې ته فکر نکوي او قصداً بوی لرونکي ګلان بویوي چې داهم مکروه دی. خوڅه شي ورباندې نه لازمیږي. (احکام حج ص ۹۴)

مسئله: داحرام په حال کې خوشبویه شیان ژوول یا بویول دخوشبویي دبویولو لپاره دهغوی په دکان کې کښیناستل، بوي لرونکي میوې یا وابنه ژوول یا بویول مکروه دي، خو که پرته له ارادې ښه بوي راشي، پروا نلري. (معلم الحجاج ص ۱۱۴)

مسئله :داحرام په حالت کې دعطرو په دکان کې کښیناستل کومه ستونزه نلري، خو دبویولو په نیت پکې کښیناستل مکروه دي. (معلم الحجاج ص ۲۲۹)

مسئله :داحرام په حال کې داسي ځای ته داخلیدل چي هلته څه مینځل شوي وي او داحرام لرونکي جاموته بوي را رسیږي خوورسره و نه لګیږي، څه نه واجبیږي. (معلم الحجاج ص ۲۳۰)

مسئله :داحرام په حال کې خوشبویه شیان عطر یا بل څه بویول یا ورسره پاته کیدل مکروه دي. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۵٦)

مسئله :داحرام په حالت کې که په حجر الاسود خوشبویي لګیدلي وي، هغه دي نه مچوي او نه دي لاس وروړي.
(معلم الحجاج ص ۲۳۲)

****

داحرام څادر به څرنګه وي؟

مسئله :له ځان سره داحرام دجامو دلرلو په فکر کې اوسئ. داحرام لپاره یو څادر (نژدې دوه نیم متره) او دلاندې تړلو لنګ (نژدې یو متر او ۲۵ سانتي متره) .دا جامه که سپینه وي غوره ده .په ډیره تودوخه او ډیره یخنۍ کې دوې ستري تولیاوي (ګانچي) احرام کول غوره دي چي هغه دڅادر او لنګ کار ورکولای سي. خو که الله تعالی درته پراخي درکړي وي، نو دوه دري احرامونه له ځان سره ولرئ، که یو خیرن سي بل به استعمال کړئ. (احکام حج ۲۴)

مسئله :داحرام څادر باید دومره اوږد وي چي، تر بنې

اوږې لاندې او پـه كينـه اوږه واوړي. لنـګ دو مـره اوږد وي چي له نو څخه دځنګونو تر ستركيو په سمه توګه ورسيږي.
(معلم الحجاج ص ۱۰۵)

مسئله :داحرام لپاره دا ضروري نه ده چي يو څادر او يو لنګ له پيله تر پايه په بدن باندي پاته شي، بلكې دهغوى دواړو بدلول جايز دي.(امداد الاحكام ج ۲ ص ۱۷۷)

مسئله :دسړيو لپـاره احرام ددوو څادرونو پـه څيـر وي. سړيو ته داحرام په حال كې ګنډل شوي جامه اغوستل منع ده.
(آپ كې مسائل ج ۴ ص ۲۵۴)

مسئله :سپينه جامه احرام كول مستحب دي . كنه تـوره يا بل ډول چي خوشبويه نه وي جايز دي.
(امداد الاحكام ج ۲ ص ۱۶۴ –ردالمحتار ج ۲ ص ۲۵۴)

مسئله :احرام كه تور يا بل رنګ وي هم جواز لري. (غوره سپين دى) ديخنې په مهال له تودو جامو څخه داكار اخستل كيدلاى شي.توليا وي هم استعماليدلاى شي.(احكام حج ص ۳۱)

مسئله :په احرام كې يوه جامه هم كافي ده چي له نو (ناف) څخه تر ستركيو پوري ورباندې بدن پټ شي او تر دوو زيـات هم جايز دي .) (معلم الحجاج ص ۱۰۵)

داحرام څادر دلنګ په ډول ګنډل

پوښتنه : که د احرام څادر، دلنګ په ډول وګنډل شي، ایا هغه استعمالیدلای شي؟ بعضې کسان د پرانستي څادر په تړلو عادت نه وي او دستر دلو څیدلو ویره یې وي، په تیره دخوب په مهال، نو آیا د احرام لنګ ګنډل کیدلای شي؟

ځواب : دستر (له نو دځنګونو تر سترګیو) دلو څیدلو ویره که وه ،نو د احرام د څادر د ګنډلو اجازه شته خو که اړتیا نه وي، ګنډل یې مکروه دي. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص۲۸٦ د غنیة المناسک ص۴۷ په حواله)

مسئله : دلنګ ددواړو سرونو ګنډل مکروه دي ،خو که چا دستر د حفاظت لپاره دا کار وکړ بیا دم واجب نه ده.(معلم الحجاج ص۱۱۴)

مسئله :که یو څادر د احرام لپاره کافي نه وُ. دوه څادرونه سره یو ځای کول او ګنډل احرام کیدلای سوای. په ګنډل شوي جامه (فرش، څادر یا بل شي) باندي محرم بیده کیدلای شي.
(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۱۹)

مسئله :غوره داده چي احرام بالکل ګنډل شوي نه وي. خو که دوي ټوټې سره وګنډلي شي هم جواز لري .(امداد الفتاوی ج ۲ ص ۱٦۴ ، درالمحتار ج ۲ ص ۲۵۴ په حواله او معلم الحجاج ص ۱۰۵).

مسئله :د احرام لنګ ته تار اچول او تر ملا تړل مکروه دي، د احرام څادرونو ته غوټه وراچول، په غاړه کې بندول مکروه دي. څادر او لنګ غوټه کول یا سره ګنډل ، ستن یا بل څه پکې ورکول یا تار پکې بندول مکروه دي.(معلم الحجاج ص ۱۱۴)

مسئله :د احرام په لنګ کې د ساعت یا پیسو لپاره جیب جوړول جایز دي. (معلم الحجاج ص ۱۱۵)

د احرام دنیت ضروري مسائل

مسئله : يوازې په زړه کې د حج دنيت په کولو احرام نه صحيح کيږي. تلبيه او کوم بل ذکر چې دهغه قايمقام وي ضروري دی. همداسي پرته له نيته يوازې په تلبيه ويلو سره هم نه محرم کيږي . د احرام لپاره نيت او تلبيه دواړه ضروري دي.

مسئله :د احرام نيت کول په زړه کې ضروري دی. په ژبه ويل يې يوازې مستحسن دي. د څه شي لپاره چې احرام وتړي دهغه په زړه کې نيت کيږي. (معلم الحجاج ص ۱۰۲)

مسئله : احرام له دوو خبرو سره تړل کيږي. نيت کول او ورسره تلبيه ويل . که چا نيت وکړ ، تلبيه يې ونه ويله او يا يې تلبيه وويله خو نيت يې ونکړ احرام نه تړل کيږي.

(کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۴۵)

مسئله :يوازې په نيت کولو احرام نه پيل کيږي، بلکې د تلبيي دالفاظو له ويلو سره پيليږي. د تلبيي د الفاظو په ويلو احرام شروع کيږي، له همدې امله د تلبيې تر ويلو وړاندې دي سر لوڅ کړل شي.(احکام حج ص ۳۲)

(کله ، کله الوتکه وځنډيږي. په احرام کې پاته کيدل او د احرام پابندۍ کول ستونزمن وي. نو ددې لپاره په کور، يا هوايي ډګر کې دې دوه رکعته نفل وکړل شي، احرام دې وتړل شي ،خو نيت او تلبيه دې په الوتکه کې تر سپريدلو وروسته ووايي، ترڅو دا اونوري پريشانۍ نه وي.) (محمد رفعت قاسمي)

دتلبيې ضروري مسائل

مسئله :تلبيه يعني بشپړ لبيک په ژبه سره ويل شرط دی. که په زړه کې وويل شي کفايت نکوي.

مسئله : گونګ به ژبه ښوروي ځکه الفاظ ويلای نشوای.

مسئله : هر هغه ذکر چي دالله تعالی تعظيم پکې مقصود وي،دتلبيې ځای نيسي. لکه لا اله الا الله ، الحمد لله ، الله اکبر او نور.

مسئله :تلبيه په اردو ، فارسي، ترکي (پښتو) او نورو ژبو جايز ده خو په عربي ويل يې غوره دي.

مسئله : که کوم بل ذکر داحرام په وخت کې ويل کيږي احرام صحيح کيږي، خو تلبيه پرېښودل مکروه ده.

مسئله :داحرام تړلو په مهال، تلبيه يا بل ذکر يو ځل ويل فرض دي. تکرار يې سنت دی .که تلبيه وايي نو درې ځله دي ووايي.

مسئله : دحالاتو تغير يعني په سهار،ماښام کې ، بهر تللو ، دننه تللو په مهال ، له خلکو سره دملاقات ، له سواري کښته کيدلو ، لوړې ته ختلو يا راکښته کيدلو او نورو وختونو کې تلبيه مستحب او مؤکد ده . يعني دنورو مستحباتو په مقابل کې په دې تاکيد ډير دی.

مسئله : که څو تنه سره يو ځای شي، يو ځای دي تلبيه نه وايي، بيل، بيل دي ووايي.

مسئله : په تلبیه کې دغږ لوړول مسنون کار دی. خو دومره لوړ نه چې یا تاسو یا لمونځ کوونکو یا بیده کسانو ته تکلیف وي.

مسئله : په مسجدحرام ، منٰی،عرفات او مزدلفه کې هم تلبیه ویل کیږي خو په مسجد کې دي په زوره نه وایي .

مسئله : په طواف او سعی کې تلبیه نه ویله کیږي، د میرمنو په زوره تلبیه ویل منع دي. (معلم الحجاج ص ۱۰۴)

احرام له کوم ځایه تړل کیږي؟

که راساً مکې مکرمې ته دتللو اراده وي ، نو په الوتکه کې تر سپریدلو وړاندې په هوائي ډګرکې باید احرام وتړل شي او تلبیه ویل پیل شي. خو که تر سپریدلو وړاندې، احرام و نه تړل شي نو جدې ته تر رسیدلو یو ساعت وړاندې، باید ضرور احرام وتړل شي او که تر میقات پرته له احرام څخه تیر شي دم (وینه-قرباني) وربانديې واجبیږي. (داځکه چې له هند او نورو ځایونو چې الوتکې ځي، دقرن المنازل له میقات یا دهغوی له برابر څخه تیریږي، له هغه ځایه څخه دتیریدلو په مهال باید حجاج ضرور احرام ولري.

- که لومړی مدینې منورې ته دتللو انتظام وي، یا له دې ځای څخه داحرام تړلو ضرورت نشته ، یا چې له مدینې منورې څخه مکې معظمې ته ځي، له ذوالحلیفي څخه به احرام تړي.

داحرام تړلو مسنونه طریقه

- تراحرام تړلو وړاندې مستحب دي چي حجامت وکړي. نوکان واخلي، دبغل او نو لاندې ويښتان لري کړي. بيا د احرام په نيت غسل وکړي، که دغسل موقع يا سهولت نه وي اودس دي وکړي.

- ترغسل يا اودس وروسته دي سرې ګنډل شوي جامې لري کړي اولنګ دې وتړي، څادر دي واغوندي او خوشبويي دي ووهي. خو په جامه به يي داغ نه پريوزي، که دا دواړه جامې سپيني او نوي وي غوره دي. (که لنګ په ماېين کې وګنډل شي هم روا ده. ځکه هغه کسان چي له ګنډلو پرته له لنګ سره عادي نه وي، هغوی ته ګنډل شوي لنګ اغوستل ښه دي تر څو يې دعورت لوڅيدلو ويره نه وي، له نامه تر ځنګنونو پورې لوڅ نشي.)

- ميرمنې دي داحرام لپاره ګنډل شوي جامې نه لري کوي. دهغوی لپاره احرام دادی چي خپل سرپټ او مخ لوڅ ولري.

- داحرام تر تياري کولو وروسته، که مکروه وخت نه وي دوه رکعته نفل دي داحرام په نيت وکړي. غوره داده چي په لومړی رکعت کې دکافرون او په دوهم رکعت کې داخلاص سورت ووايي. ښکاره دي وي چي ددي لمانځه دکولو په مهال، په څادر يا بل شي سرپټ شي داغوره دی. ځکه تر اوسه لا داحرام پابندي پيل شوی نه ده.

- که دامهال میرمنې دناپاکۍ په حال کې وي، لمونځ دې نه کوي، داحرام نیت دې وکړي او تلبیه دې ووايي.

- تر دې وروسته دې سرې په زوره او میرمنې په پټه ډول درې ځله تلبیه ووايي. دتلبيې الفاظ دادي :لبيك اللهم لبيك، لبيك لا شريك لك لبيك ، ان الحمد والنعمة لك والملك لاشريك لك. (حاضريم اي الله ! زه حاضريم ، ستا هيڅ شريک نشته ، حاضريم ټولې ستاينې او ټول نعمتونه يوازې تا لره دي او ټوله پادشاهي تا لره ده ، ستا کوم شريک نشته.)

- له نيت سره تر تلبيه ويلو وروسته تاسو محرم سو است او داحرام ټولې پابندې شروع سوي. دا يادولرئ چي داحرام لپاره نه يوازې نيت کافي وي او نه هم يوازې تلبيه بلکې تلبيه او نيت يوځای شرط دي.

- ترتلبيه وورسته ، چي هره دعا غواړئ ويي کړئ، دادعا مستحب ده :

{اللهم اني اسئلک رضاک والجنة واعوذبک من غضبک والنار .}

(ای الله! زه ستا رضا او جنت غواړم او ستا له قهر او له دوزخ څخه پناه غواړم.)

- داحرام تر پيل کيدلو وروسته، ډير شيان چي وړاندي روا وو، هغه هم حراميږي. مثلاً خوشبويي لګول، ګنډل شوي

جامې اغوستل،نوکان یا ویښتان اخیستل، سر یا مخ پټول، ښکار کول، له میرمنې سره جماع کول یا دبې حیایې خبرې کول.(ددې تفصیل دحج په کتابونو کې وګورئ یاد یې کړئ او دتهولو خیال ساتل مناسب دي. محمدرفعت قاسمي.)

- دتمتع حج په صورت کې چې مکې مکرمې ته ورسیږئ ترطواف کولو وړاندې تلبیه ویل بنده کړئ. خو په حج افراد او قران کې تلبیه ،دذې الحجې تر لسمې دجمرې عقبې تر ویشتلو جاري وي. تر هغه چې دتلبیه دویلو حکم وي په کثرت او ذوق سره یې جاري ولرئ. دویلو په مهال یې معنې په ذهن کې ولرئ او داتصور وکړئ چې یو بې وزله مین دخپل مهربان بادار دربار ته ځي.

په بیت الله کې حاضري

- مکې مکرمې ته په رسیدلو دهستوګنې او نورو په اړه دانتظام تر بشپړولو او بې غمې سره، تاسو حرم شریـــف ته د حاضریدلو لپاره تیاریږئ.

- کله چې مو په بیت الله شریف سترګې ولګیږي، په داده زړه دژړا په بدرګه دعا وکړئ، داد قبول موقع ده.

دطواف کولو طریقه

مسئله : دطواف معنی ده، دیوه شي خواوشارا ګرځیدل. دطواف په نیت کولو سره دبیت الله خواوشا (څلورطرفه) اوه ځلې ګرځیدلو ته طواف وایي. یوځل ګرځیدلو ته شوط وایي. پرته له بیت الله څخه تر څه ش...

ناجايز دي. دطواف لپاره، دطواف نيت کول فرض دي. پرته ل
نيت څخه که څوک هرڅومره واري تري وګرځي طواف نه بلل
کيږي. دطواف نيت (په عربي او هره ژبه چي وي) داسي دی:
يا الله ! زه ستا درضا لپاره دطواف اراده کوم، هغه راته
اسانه کړي او راڅخه قبول يي کړي.) په زړه کې داسي نيت
کول فرض دي او په ژبه ويل يي غوره دي.

دکعبې مبارکې په کوم کونج کې چي حجرالاسود لګيدلی
دی، هغې ته نژدې په ځمکه يوه توره پټۍ ديوه بالښت په
پراخي، دصفا لورته دانبيې چي څنګ ته حجرالاسود ده.

(دتورې پټۍ په ختم کې، دصفا ددروازې لورته، دمطاف
په پای کې يو ګروپ ؤ چي اوس نښته ده.) مسجد حرام ته چي
له هري دروازي دننه شئ، له هغې پټۍ سره به درېږئ او تلبيه
به بس کوي. دطواف کولو ترنيت وروسته به داحرام دڅادر
ښې لوری تر ښې اوږه لاندې او په چپه اوږه به يي واړوي. دې
ته اضطباع وايي. داسي دطواف ترپوره کيدلو پوري وي
دي پټۍ ته په راتلوبه داسي درېږئ چي حجراسود موخوا کې
وي. تاسوبه ددې پټۍ چپ لورته درېږئ چي ښۍ پښه مو ل
پټۍ سره ولګيږي، چپه پښه به داسي بيله وي چي، ښې اوږ
دحجرالاسود له څنډې سره وي او بدن دحجرالاسود څنګ ت
کيڼ لورته وي. يعني تاسي به دحجراسود مخته په پټۍ داس
درېږئ چي حجرالاسود ستاسو مخته وي. بيا به:
{بسم الله، الله اكبر ، ولله الحمد}

واياست او دواړه لاسونه به پورته کړئ، داسي لکه په لمانځه کې چي پورته کيږي، تر غوږونو پوري به لاس پورته کړئ، ددواړو لاسونو ورغوي به کعبې او حجرالاسود ته مخامخ وي، بيا به لاسونه پريږدئ. دې عمل ته استقبال وايي. دا يوازې په پيل کې کيږي. په نورو شوطونو کې استقبال نه کيږي. يعني دتحريمي دتکبير په څير به لاسونه غوږو ته وړئ، بيا به يې نه پريږدي بلکې استلام به کوي. يعني دواړه لاسونه به دحجر الاسود لور ته داسي نيسئ چي ورغوي يې دحجر الاسود لور ته وي او شاوي يې ستاسو مخته وي. کله چي لاس پورته شي، داسي به واياست :

{بسم الله ، الله اکبر و لله الحمد.}

چي دا وواياست، دلاسونو ورغوي به ښکل کړئ. خو چي دمچولو غږيې پورته نشي. دې عمل ته استلام وايي.

کله چي له استلام څخه فارغ شئ، طواف به پيل کړئ. دا چي طواف مو دعمرې طواف دی او تر دې طواف وروسته سعی هم کوئ، له همدې امله به په دريو لومړنيو شوطونو کې رمل هم کوئ. درمل مطلب دادی (که ممکن وي، ازدحام نه وي او موقع وي) دواړه اوږې به ښوروي او دپهلوانانو په څير به په لنډو قدمونو ژر، ژر ځئ. تر دريو شوطونو وروسته به په نورو شوطونو کې په اعتدال سره ځئ. په هغوی کې رمل نشته ، ميرمنې به په يوه شوط کي هم رمل نه کوي.

ناجايز دي. دطواف لپاره، دطواف نيت کول فرض دي. پرته ل
نيت څخه که څوک هر څو مره واري تري وګرځي طواف نه بل
کيږي. دطواف نيت (په عربي او هره ژبه چي وي) داسي دي:
يا الله ! زه ستا درضا لپاره دطواف اراده کوم، هغه را
اسانه کړي او راڅخه قبول يي کړي.) په زړه کې داسي نيز
کول فرض دي او په ژبه ويل يي غوره دي.
دکعبې مبارکې په کوم کونج کې چي حجرالاسود لګيدل
دی، هغې ته نژدې په ځمکه يوه توره پټۍ ديوه بالښت
پراخي، دصفا لورته دابيې چي څنګ ته حجرالاسود ده.
(دتورې پټۍ په ختم کې، دصفا ددروازې لورته، دمطا
په پای کې يو ګروپ ؤ چي اوس نښنه ده.) مسجد حرام ته چ
له هري دروازي د ننه شئ، له هغې پټۍ سره به دريږئ او تلبي
به بس کوي. دطواف کولو ترنيت وروسته به داحرام دڅاد
ښې لورى تر ښې اوږه لاندې او په چپه اوږه به يي واړوي. د
ته اضطباع وايي. داسي دطواف تر پوره کيدلو پوري و
دي پټۍ ته به راتلو به داسي دريږئ چي حجراسود مو خوا ک
وي. تاسو به ددې پټۍ چپ لورته دريږئ چي ښۍ پښه مو ل
پټۍ سره ولګيږي، چپه پښه به داسي بيله وي چي، ښې او
دحجرالاسود له څنډې سره وي او بدن د حجرالاسود څنګ
کيڼ لورته وي. يعنې تاسي به دحجر اسود مخته په پټۍ داس
دريږئ چي حجرالاسود ستاسو مخته وي. بيا به:
{بسم الله، الله اکبر ، ولله الحمد}

و ایاست او دواړه لاسونه به پورته کړئ، داسې لکه په لمانځه کې چې پورته کیږي، تر غوږونو پورې به لاس پورته کړئ، ددواړو لاسونو ورغوي به کعبې او حجرالاسود ته مخامخ وي، بیا به لاسونه پریږدئ. دې عمل ته استقبال وایي. دا یوازې په پیل کې کیږي. په نورو شوطونو کې استقبال نه کیږي. یعني دتحریمي دتکبیر په څیر به لاسونه غوږو ته وړئ، بیا به یې نه پریږدې بلکې استلام به کوي. یعنې دواړه لاسونه به دحجر الاسود لور ته داسې نیسئ چې ورغوي یې دحجر الاسود لور ته وي او شاوي یې ستاسو مخته وي. کله چې لاس پورته شي، داسې به وایاست :

{بسم الله ، الله اکبر و لله الحمد.}

چې دا ووایاست، دلاسونو ورغوي به ښکل کړئ. خو چې دمچولو غږیي پورته نشي . دې عمل ته استلام وایي.

کله چې له استلام څخه فارغ شئ، طواف به پیل کړئ. دا چې طواف مو دعمرې طواف دی او تر دې طواف وروسته سعی هم کوئ، له همدې امله به په دریو لومړنیو شوطونو کې رمل هم کوئ. درمل مطلب دادی (که ممکن وي، ازدحام نه وي او موقع وي) دواړه اوږې به ښوروي او دپهلوانانو په څیر به په لنډو قدمونو ژر، ژر ځئ. تر دریو شوطونو وروسته به په نورو شوطونو کې په اعتدال سره ځئ. په هغوی کې رمل نشته ، میرمنې به په یوه شوط کې هم رمل نه کوي.

هر شوط چې پوره شي دحجرالاسود استلام به کوئ. یعنی

چي راوګرځئ او حجرالاسود ته ورسيږئ، نو:

{بسم الله ، الله اکبرو لله الحمد.}

به وايا ست او حجرالاسود به ښکلوئ، دلاس په لګولو او د لاس په ښکلولو هغه عمل کيږي چي وړاندي وشول. داسي يوشوط پوره شو. همداسي اوه شوطه له حجرالاسود څخه پيل او په حجرالاسود ختم شي، يو طواف بشپړ شو. تر اوو شوطونو وروسته، اتم ځل به هم استلام يعني ددواړو لاسونو ورغوي به د حجرالاسود طرف ته کړئ، مچ يي کړئ.

استلام د هر شوط په پيل کي کيږي او چي اخيري شوط پوره شي د حجرالاسود استلام بيا کيږي. نو په يوه طواف کي اته استلامونه کيږي.

(احکام حج-ص ۴۵ کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۹۵، رحمه الله الواسعه ج ۴-۲۰۸)

د طواف په هر شوط کي د نوي دعا لوستل

مسئله: په طواف کي اوه ځله ګرځيدل دي، په هر وار ګرځيدلو کي نوي، نوي دعا کول ضرور نه ده. بلکي په کومه دعا کي چي خشوع ډيره وي، هغه دي وايي. له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د رکن يماني او حجرالاسود تر منځ دا دعا منقول ده:

{ربنا اتنا في الدنيا حسنة وفي الاخرة حسنة وقنا عذاب النار.}

د طواف په اوو ځلو ګرځيدلو کي چي دعاوي په کتابونو کي راغلي دي، هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه رانقل شوي نه دي. له ځيني ديني مشرانو څخه منقولي دي.

عام خلک يي نه سم تلفظ کولای شي او نه يي په معنی او مفهوم پوهيږي. بيا د طواف په ګرځيدلو کې يي وايي، نورو خلکو ته هم تشويش پيدا کيږي. ځيني خلک قرآن کريم په زوره پکې تلاوت کوي داسي هم مناسب نه دي.

دريمه کلمه، درود شريف يا بله دعا چي خوندوره وي، هغه په پټه خوله چي نورو ته تشويش نه وي، وويله شي.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۱۲ -احکام حج ص ۴۷)

مسئله: د حج په مقاماتو کې د کومي دعا تعينول ښه نه دي. کومه چي خوښه وي، کومه چي ضرورت وي، هغه دي ويله کيږي. ځکه په ټاکلو الفاظو کې د زړه رقت او خشوع ډير وخت کمه وي. نو ځکه دا غوره ده چي د خپلې ژبې او خپلي محاوري دعا وشي. (احکام حج ص ۴۸)

تر طواف وروسته ددوه رکعته لمانځه حکم

مسئله: په طواف کې تر اوو شوطونو ګرځيدلو وروسته دوه رکعته لمونځ کول واجب دي. که هغه طواف فرض وي، واجب وي او که نفلي. غوره داده چي دا طواف او لمونځ سره متصل ادا کړای شي. خو چي مکروه وخت نه وي. که مکروه وخت ؤ، بيا چي کله وخت پيدا شي، دوه رکعته لمونځ لازم دی، که څه هم وطن ته بيرته راشي، خو ځنډ يي مکروه دی.

(کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۷۵ -احکام حج ص ۴۹)

مسئله: که چا په مکه مکرمه کې، د طواف لمونځ ونکړ، د هغه اداء واجب ده. له ذمي يي نه ساقطيږي. په ټول ژوند کې

يې اداء کولای شي. (معلم الحجاج ص ۱۳۳ –حج بيت الله کې اهم فتاوی ص ۵۲)

(تر هر طواف وروسته دوه رکعته لمونځ کول واجب دي، په حرم کې يې کول سنت دي. يعني په هغه ساحه کې چې هلته ښکار کول جواز نلري. نو له مسجد حرام سره، سره په هوټل او دخپلې هستوګنې په ځای کې هم کيدلای شي. که يې همدا لمونځ هير شو، هيواد ته لاړ، هلته دې وکړي. په تاخير او ځنډ کې يې دم يا بل څه نشته. واجب يې اداء کيږي. (محمد رفعت قاسمي)

ايا په مقام ابراهيم کې نفل اداء کول ضروري دي؟

پوښتنه: ځيني خلک فکر کوي چې، خلک ډير دي خو دطواف دوه رکعته غواړي په مقام ابراهيم کې يې وکړي، هلته ده ته هم ستونزې وي، ميرمنې يا کمزوري خلک احتمالاً زخمي هم شي، ايا دالمونځ دازدحام له امله هلته ستونزه نلري؟

ځواب: له ازدحام څخه ضرور ستونزه ليدله کيږي، په مقام ابراهيم کې دوی يا نورو ته ضرر رسيږي. نو هلته دې لمونځ نکوي. ځکه چاته ضرر رسول حرام دي.

مسئله: که ځای ؤ (چاته تکليف نه رسيده) نو دطواف دوه رکعته، دابراهيم عليه السلام په مقام کې کول غوره دي. که په حطيم کې ځای وي، هلته دې وشي او کنه بيا که هر ځای وشي بلکې په ټول حرم شريف کې يا بهر په خپل هستوګن کې يې کول هم جايز دي کراهت نلري. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۱۴)

مسئله: دطواف دوه رکعته په مقام ابراهيم کې کول، دا

معنی چې مقام، دلمونځ کوونکي او بیت الله ترمنځ راشي.
مقام ابراهیم ته چې څومره نژدې وي، هغومره غوره دی. که
څه فاصله وي بیا هم باک نلري. خلکو ته تکلیف ورکول او
وراندې تلل ناپوهي ده.
مسئله: دګڼه ګوڼې په مهال، نژدې ورتلل تاسو ته تشویش
اونورو ته ضرر رسیږي. نوغوره داده چې څه لرې وکړای شي.
مسئله: دطواف ددوو رکعتونو لپاره که له مقام ابراهیم سره
ځای پیدا شي، نو ښه داده چې په لنډ قرائت سره وشي او لنډه دعا
وکړو ترڅو نورو ته ځای خلاص شي او ورته ستونزه نه وي. اوږده
دعا یا نفلونه دې نه کوي. (احکام حج ص۵۰ مفتي محمدشفیع رحمه الله)

دڅو طوافونو نوافل یوځای کول

مسئله: که څوک څوطوافونه په پرلپسې توګه وکړي او
بیادهرطواف لپاره دوه رکعته هم هغسې مسلسل وکړي.
داسې کول مکروه دي. خو دطواف دوه رکعته په مکروه وخت
کې مکروه دي. که هغه مهال همداسې مسلسل طواف وشي
اودمکروه وخت ترتیریدلووروسته، دهرطواف لپاره دوه، دوه
رکعته وشي، مکروه نه دی. (فتاوی محمودیه ج ۳ ص۱۸۳ احکام حج ص۵۰)

معذور شخص به دطواف نفل څرنګه کوي؟

مسئله: معذور شخص چې څرنګه نورلمونځ کوي، هغسې به
همدا دوه رکعته هم کوي. یعني په ولاړه به یې کوي، که یې وس نه
درلود په ناسته به یې کوي. طواف دې په خپله یا له بل سره او یا
هم په ګرځنده چوکۍ کې لکه عام معذورخلک چې یې کوي، ودې
کړي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۱۳)

د طواف نفل، په ممنوع وخت کې کول

مسئله: د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد، په ممنوعه وخت کې، یعني تر مازدیګر وروسته تر ماښامه، له سهار څخه د اشراق تر وخته او د زوال په مهال د طواف دوه رکعته کول جایز نه دي. په دغه وخت کې که یې هر څو مره طوافونه وکړل، تر مکروه وخت وروسته دا دوه رکعته د هر طواف لپاره بیل بیل وشي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۱۴، فتاوی محمودیه ج ۳ ص ۱۸۲)

مسئله: که دا دوه رکعته په مکروه وخت کې وکړي، د علماوو په اتفاق هغه نه اداء کیږي. که یې په منځ کې دا خیال شو چې دا وخت مکروه دی، پرې دې یې ږدي دي. که یې بشپړ کړل د مکروه وخت تر تیریدلو وروسته دې بیا وکړي.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۲۷ ورد المحتار په حواله، معلم الحجاج ص ۱۳۳)

که یې نفل هیر شول او بل طواف یې پیل کړ

مسئله: که تر طواف وروسته یې دوه رکعته هیر شول او دوهم طواف یې پیل کړ، که یې د دوهم طواف تر یو ځل ګرځیدو وړاندې ورته یاد شول، هغه دې پریږدي او دوه رکعته دې وکړي. که یې یو شوط پوره کړ او ورته یاد شول، بیا که تر هر ځل ګرځیدلو وروسته ورته یاد شول، طواف دې بشپړ کړي اوبیا دې دوه رکعته د مخکنې طواف لپاره وکړي او دوه رکعته دې د دې طواف لپاره وکړي.

(فتاوی محمودیه ج ۳ ص ۱۸۳ معلم الحجاج ص ۱۳۳)

****

دطواف ضروري مسائل

مسئله : دطواف تر پیل کولو وړاندې، تر غوړونو پورې دلمانځه په څېر لاسونه اوچتول یوازې لومړی ځل دي، اوه ځله نه دي.

استلام یعني ددواړو لاسونو ورغوي دحجر الاسود لور ته کول، ګواکې په حجر الاسود ایښودل دي اودلاسونو شا خپل مخته کول او بیا خپل لاسونه ښکلول اته ځله دي.
(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۰۰، احکام حج ص ۴۶)

مسئله : دحجر الاسود استلام یعني ښکلول اول ځل او اتم ځل په اتفاق سره مؤکد سنت دي. دمنځ په ګرځېدلو کې ډېر تاکید شوی نه دی. (احکام حج ص ۴۷)

مسئله : تر کوم طواف وروسته چې سعی وي، دهغه په اول دري ځلي ګرځېدلو کې رمل (پهلواني) هم کېږي. تر کوم طواف وروسته چې سعی نه وي، هلته رمل هم نشته.

مسئله : که طواف په رمل سره پیل شي، تر یو دوه ځله ګرځېدلو وورسته دومره ګڼه ګوڼه وي چې رمل کولای نشي، رمل دې پرېږدي او طواف دې پوره کړي.

مسئله : که ناروغ یا زوړ کس رمل ونکړای سي پروا نلري.

مسئله : په ټول طواف یعني اوه ځله ګرځېدلو کې، رمل کول مکروه دي. خو په کولو یې کومه جزاء نه لازمېږي.

(معلم الحجاج ص ۱۳۴)

(رمل د طواف په پیل کې یوازې په دري ځله ګرځیدلو کې
دي. که په لومړي ځل ګرځیدلو کې هیر شي، په نورو دوو کې
او که په دوهم کې هم هیر سو، یوازې په دریم کې دې رمل
وکړي. که په دریم شوط کې هم هیر شي، بیا دې هیڅ نه کوي.
لکه څرنګه چې په دریو لومړنیو شوطونو کې رمل مسنون
دی. همداسې په څلورو وروستنیو کې رمل نه کول مسنون
دي. یعني که یو ځای سنت پاته شول، بل ځای دې نه پریږدي.
خو اضطباع دې تر اخر ځل ګرځیدلو پوري وي او دوه رکعته
د طواف د لمانځه په مهال دې ختم کړي. یعني په پټه اوږه دې
لمونځ وکړي، خو سر دې لالوڅ وي. ځکه د احرام په حالت کې
سر نه پټیږي. نو که رمل، اضطباع یا استلام پاته شي، څه
سزاء او بل څه نه لازمیږي. محمد رفعت قاسمي)

مسئله: د طواف ځای، د بیت الله څلورو لورو ته د مسجد
دننه دی. که له بیت الله څخه لرې وي او که نژدې، د ستنو په
منځ کې طواف وکړای شي هم طواف کیږي، د مسجد حرام په
چت، که څه هم کعبه مبارکه ټیټه وي، طواف کیږي. خو له
مسجد څخه بهر وتل او طواف کول، بیا طواف نه کیږي.
(معلم الحجاج ص ۱۳۷)

مسئله: په طواف کې د سجدې ځای ته کتل مستحب دي.
بیت الله یا بل لور ته کتل د استحباب خلاف دي. (احسن الفتاوی
ج ۴ ص ۵۴۸: غنیه ص ۶۵ په حواله)

مسئله: په طواف کې پټه خوله او هیڅ نه ویل هم جواز

لري. دطواف په وخت ددعا كولو په حال كې لاس نه اوچتيږي. (معلم الحجاج ص ۱۳۷)

مسئله: دطواف په مهال، قرآن كريم تلاوت كولای شي، خو غوره ذكر دی. كه تلاوت كوي هم په لوړ غږ دي نكوي.
(فتاوی رحيميه ج ۸ ص ۲۸۷ - احكام حج ص ۴۹)

مسئله: ذكر، دعا يا تلاوت په لوړ غږ كول يا له بلې وجه غږ لوړول، داسي چي طواف كوونكو اولمونځ كوونكو ته تشويش پيدا كيږي، مكروه دي. (عمدة الفقه ج ۴ ص ۱۸۹)

مسئله: دطواف پيل له حجرالاسود څخه كيږي. كه چا ونكړه، دمكې دهستوګني په مهال بيا طواف كول ورباندي واجب دی. كه يې بيا طواف ونكړ او هيواد ته لاړ، قرباني كول ورباندې واجب دي.

مسئله: دطواف دپيل په مهال غوره داده چي ټول بدن يې حجرالاسود ته مخامخ وي، تر دې چي كومه برخه يې دهغې له مخامخ كيدلو څخه پاته نشي.

مسئله: له واجباتو څخه داده چي دكعبې له دروازې سره نژدې ښي لوري ته طواف وشي او كعبه كيڼ لوري ته پاته شي. ځكه كعبه دامام په څير ده، مقتدي كه يوازې وي نو د امام ښي لوري ته دي دريږي، كه طواف ددې په خلاف وشي، يعني له كيڼ لوري شروع شي او كعبه ښې لوري ته پاته شي. نو بيا دوباره طواف او يا دم (وينه - قرباني) واجب ده.
(كتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۷۴)

مسئله : څوک چي د مریض او معذور لپاره طواف کوي اجرت ورته جایز دی. (معلم الحجاج ص ۱۳۶)

مسئله : د طواف لپاره ، جامه ، بدن او ځای له نجاست څخه پاک ساتل مؤکد سنت دي.

که چا طواف کاوو او ټول لباس يي ناولي ؤ نو سنت يي ترک کړل ، خو کوم تاوان ورباندي نشته . (کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۷۴)

مسئله : که طواف کوونکي د طواف نیت وکړ او معذور یا بي هوښه نه ؤ ، که يي په خپله نیت وکړ طواف يي کیږي او که بيهوښه ؤ طواف يي نه کیږي، که طواف ورباندي کوونکي نیت وکړ طواف يي کیږي.(معلم الحجاج ص ۱۳۶)

مسئله :ستر دعورت لکه څرنګه چي په لمانځه کي واجب دی، په طواف کي هم واجب دی ، نو دبدن د کومو ځایونو پټول چي واجب دي، که په هغوی کي د کوم اندام څلورمه برخه لوڅه وي، نو واجب پاته سول . بیا به دوهم ځلي طواف کوي او یا قرباني ورباندي واجب ده .(کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۷۴)

مسئله : په طواف کي که میرمن له سړي سره نژدې شي، طواف يي نه فاسدیږي. نه د سړي او نه هم د میرمني .

(معلم الحجاج ص ۱۳۶)

طواف غوره دی او که عمره ؟

مسئله :ډیرطواف کول افضل دي، خو شرط دادی چي څومره وخت عمره کیږي هغومره یا تري ډیر وخت په طواف تیر کړي. که دغسي نه وي بیا دعمرې په ځای یو اودوه طوافونه غوره نه دي .(آپ کي مسائل ج ۴ ص ۲۸)

مسئله :دبهر هستوګنو لپاره تر نفلي لمونځ نفلي طواف ښه دی. (معلم الحجاج ص ۱۵۰)

له طواف څخه پر ته داوږې لوڅول

پوښتنه : په حج یا عمره کې چي احرام تړلی وي، ډیر خلک اوږه لوڅوي ، ددي حکم څه دی؟

جواب :شرعي مسئله داده چي په حج او عمره کې چي تر طواف وروسته سعی وي په هغه طواف کې رمل او اضطباع کیږي . له رمل څخه مطلب دادی چي دپهلوانانو په څیر اوږې وښوروي او څه اندازه ګړندی لاړ شي (دایوازې په دریو لومړنیو شوطونو کې، هغه هم چي ځای اوموقع وي .)

له اضطباع څخه مطـــلب دادی چي ښي اوږه لوڅه وي.له داسي طواف څخه پرته په تیره بیا په لمانځه کې داوږې لوڅول مکروه دي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۹۰)

مسئله :په عاموحالاتوکې دي اضطباع یعني داحرام څادر تر ښې اوږې لاندې اوپه کیڼه اوږه اچول نه کیږي. خصوصاً په لمانځه کې دي اضطباع نه کوي. ترکوم طواف وروسته چي سعي وي په هغه طواف کې اضطباع سنت ده .

سعی څه شی ده؟

مسئله :دصفا او مروه دوي غونډۍ چي مسجد حرام ته نژدې دي (اوس په مسجد حرام کښ شاملي دي.) دسعي معنی منډې وهل دي او دشرع په اصطلاح، دصفا او مروه تر منځ په یوه خاصه طریقه اوه ځله تلل راتلل سعې بلل کیږي. دا یوازې داسمعیل(علیه السلام) دمور، هاجرې (علیهما السلام) دیوه ځانګړې عمل یادګاردی. په حج او عمره دواړو کښ سعی کول واجب دي. (احکام حج ص۵۳)

دمسعي (دسعی ځای) اوږدوالي ۳۹۴/۵ متره ده. دا اندازه دصفا دغونډۍ له دیوال څخه پیل دمروه په لوړه تر دیوال پوري ده. دسعی دځای سور ۲۰ متره دی اوس یي سور ډیر شوی دی. (تاریخ مکه ص ۹۴)

دسعی شرائط او آداب

مسئله : سعی ترطواف وروسته کیږي. که چاترطواف وړاندي سعی وکړه، هغه اعتبارنلري ترطواف وروسته به یي بیا کوي.

مسئله : سعی تر طواف وروسته دستي کول ضرور نه ده. خو له طواف سره متصله سنت ده. که دکوم ضرورت له امله یي ترمنځ څه ځنډ راغی کوم مه ستونزه نشته. له عذر پرته یي تاخیر مکروه دی.(معلم الحجاج ص ۱۴۳ کتاب الفقه ج۱ ص ۱۰۷۷)

مسئله : سعی کول پیاده واجب ده. که کوم عذروي په سواري هم کیدلای شي. که له عذره پرته په سواري وشي دم واجبیږي. (احکام حج ۵۳)

په سعی کې ځنډ او په ګرځیدلو کې فاصله راوستل

مسئله: زموږ په نزد سعی واجب ده. له طواف سره دستي کول یي سنت ده، واجب نه ده، که چا دستړیا یا بل عذر له امله سمدستي په طواف پسې ونکړه پروا نلري. خو که پرته له عذره وځنډیده مکروه ده.(معلم الحجاج ص ۱۴۳، کتاب الفقه ۱۰۷۷)

مسئله :دزیارت طواف، حلق، رمی او قرباني په حج کې ټول دنحر په ورځ کول واجب دي. خو دصفا او مروه ترمنځ سعی کول، په دې ورځ کې کول لازم نه دي. بلکې وروسته یي کول هم جایز دي. نو که چا ته عذرؤ یا یي ستړیا لري کوله، ارام کول یي غوښتل. ارام کولای شي، نن نه سبا یا لس پنځلس ورځي وروسته یي کول هم جواز لري. همداسې دسعی دا اوه ځله ګرځیدل په پرلپسي توګه سنت دي. واجب نه دي. که تر څو ځله ګرځیدلو وروسته چا ساه کوله او نور ګرځیدل یي وځنډول وروسته یي پوره کړل نو سعی بشپړ او صحیح ده. په دې باندي کومه جزا نه واجب کیږي.

مسئله :که چا په متفرق ډول سعی وکړه، مثلاً په ورځ کې یو ځل لاړ او په اوو ورځو کې یي اوه ځله ګرځیدل پوره کړل، داسي هم جایز دي، خو داکار دعذر له امله، پرته له کراهت څخه جایز دی او که یي عذر نه درلود، دسنت خلاف کار دی. (غنیة المناسک ص ٦٨، معلم الحجاج ص ۱۴۷، احکام حج ص ۴۳)

****

****

دسعی مسنونه طریقه

ترکوم طواف وروسته چي سعی کیږي، د هغه طواف تر فراغت وروسته، دحجرالاسود داسي استلام کیږي لکه د طواف په پیل او پای کې چي کیږي. (لاسونه حجرالاسود ته مخامخ پورته کول، بسکلول اوبسم الله، الله لکبر لا اله الا الله، ویل) دا دوه استلامه، یوځل دسعي کوونکو لپاره مستحب دي. تر استلام کولو وروسته، له سنت سره برابرله باب الصفا څخه بهر وزي، که له بلي دروازې ووزي هم جایز دي. بیا صفا غونډۍ ته دومره وخیژي چي بیت الله شریف تر سترګو شي، قبلي ته مخ وګرځوي دسعي داسي نیت وکړي:

(یا الله! ماستا درضا لپاره دصفا او مروه ترمنځ داوه ځله ګرځیدلوسعی اراده کړي ده هغه زمالپاره اسانه او قبوله کړي.)

(نیت په ژبه یا زړه سره وشي، په هره ژبه کیدلای شي، په عربي ژبه ضروري نه ده.) دا نیت په زړه کې کول هم کافي دي خو په ژبه کې ورسره ویل یې غوره دي. بیا دې دواړه لاسونه داسي پورته کړي لکه په دعا کې چي پورته کیږي (دتحریمي دتکبیر په ډول دي نه پورته کوي. ځیني نا خبره کسان یې هغسي پورته کوي.) بیا دې تکبیر او تهلیل یعني:

(لا اله الا الله وحده، لاشریک له، له الملک وله الحمد یحيٰ ویمیت وهو علی کل شی قدیر.) په خشوع او خضوع سره د ځان او نورو لپاره دعا وکړي. دا هم ددعا دقبلیدلو ځای دی. څه

چي يي زړه وي، هغسي دعا دي وکړي، دعا كول دسعي په ادابو کې ده.

اوس دي نو سعى پيل کړي، داخبره دې په ياد ولري چي اضطباع به نه کوي. اضطباع دطواف ددوو رکعتونو ترکولو وړاندي ختمه شوي وه ،نو په پټه اوږه به سعى كوي، خلكو ته دې ګوري او اضطباع دې نه کوي. بيا دي ذكركوي. له صفا څخه دي دمروه لورته لاړ شي، کله چي لږ لاړ شي، نښانونه ښكاري چي په كتابونو کې هغه "ميلين اخضرين" بلل شوي دي. هلته اوس نه ستني سته او نه هم ډبري . اوس فقط يوازې زرغونه ټيوب لايټونه (زرغونه څراغونه ،ګروپونه) په ديوال اوچت ښكاري.

دا دګروپونوزرغونه پټۍ دوه ځايه ښكاري، دهمدې دواړو ترمنځ يوازې سړي پكې په چټک تګ تيرېږي داسي چي په متوسط منډه تير شي .(دميرمنو لپاره ځغاسته نشته)

تر دې ميلانو چي تير شي، تر مروه پوري دي په عادي تګ ځي، پراخ ځای دې ودريږي ،لږ دي ښي لورته مايل شي ،مخ دي دبيت الله لورته وګرځوي، ودي دريږي. لكه څرنګه چي په صفا کې يي ذكراو دعا کړي وه، دلته دې هم وکړي. دلته هم دعا قبليږي. دا له صفا څخه تر مروه پوري يو ځل ګرځيدل (يو شوط) شو . بيا به له مروه څخه دصفا په لورځي او ددواړو ميلونو ترمنځ به دتير په څير منډه کوي. په صفا کې به بيا دپيل په توګه دعا کوي.. دا له...

شو طه شول. داسي دي اوه ځله لا ړشي، سعی پوره کیږي. بیا دي دوه رکعته نفل په مسجد حرام کې وکړي. تر طواف وروسته دوه رکعته واجب وو، خو تر سعی وروسته مستحب دي. که چا ونه کړل، قضاء نلري. دالمونځ دې په مروه کې نه کوي. که یې کوي په مسجد حرام یا په خپل هستوګن ځای کې دي وکړي.

مسئله: له کعبې شریفي څخه یو ځل راګرځیدل یو شوط پوره کیږي. خو په سعی کې له صفا څخه تر مروه یو شوط او له مروه څخه تر صفا پوري دوهم شوط دی. دبشپړې دورې نوم شوط نه دی. (احکام حج ص ٥٦، معلم الحجاج ص ۱۴۲، کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۷۵)

دصفا په ځای له مروه څخه سعی کول

مسئله: له صفا څخه دسعی پیل کول واجب دي. که دصفا په ځای له مروه څخه سعی پیل شي، نو دواجب دپرېښودلو له امله لومړني ځل ګرځیدل اعتبار نلري. تر هغه وروسته به اوه ځله ګرځیدل بشپړوي. که دغه وخت اووم شوط تر سره نکړي نو کله چي وغواړي دایو ځل ګرځیدل دې وکړي. خو د حج سعی به دعرفات تر وقوف وړاندي تکمیلوي، کنه بیا له سعي به بیا کوي. که پاته شي بیا وینه (دم) لازمیږي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۱۸، حج بیت الله کي اهم فتوی ۵۸)

مسئله: سعی له صفا څخه پیل او په مروه باندي پای ته رسیږي، که له مروه څخه پیل شي لومړی تلل نه شمیرل کیږي بلکې چي صفا ته راشي نو سعی شروع کیږي، له هغه ځایه دي او ځله تلل پوره کیږي. (معلم الحجاج ص ۱۴٦)

دسعی ضروري مسائل

مسئله : سعی له صفا څخه پیل کول او په مروه باندي پای ته رسول واجب دي .(معلم الحجاج ص ۱۴۴)

مسئله : نفلي طواف کیدلای شي خو نفلي سعی کیدلای نشي.(معلم الحجاج ص ۱۵۰)

په سعی کې دغلطي حکم

مسئله :که ټوله سعی یا یکې څو ځله ګرځیدل پاته شي، یا پرته له عذره په سپرلۍ وشي، حج کیږي خو دم واجبیږي. که یا پیاده سعی وشي دم ساقطیږي. خو که دعذر له امله په سپرلۍ سعي وشي، څه شی نه واجبیږي. که دسعی یو ، دوه، یا دري ځله ګرځیدل پاته شي یا پرته له عذره په سپارلي وشي نو دهرځل ګرځیدلو په بدل کې صدقه لازمیږي.(احکام حج ص ۱۰۲)

مسئله :که د سعی یوځل ګرځیدل پاته شي،صدقه دي ورکړل شي.که دوه یا درې ځله ګرځیدل پاته شي دهرچکر په بدل کې صدقه واجبیږي.(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۱۸ حج بیت الله کي اهم فتاوی ۵۸)

مسئله :که په سپرلي سعي وکړي، یعني په ګرځنده چوکۍ یا بل څه ،نود دوو زرغونو میلونو ترمنځ دي په تیزي سره بیایي، خو چي ځان یا نورو ته تکلیف نه وي.

مسئله :پیاده یا په سپرلي، دومره منډه سنت ده چي نورو ته دتکلیف سبب نشي. (احکام حج ص ۵۷)

مسئله :دزرغونو میلانو ترمنځ، ډیره تیزه منډه سنت نه ده بلکې په متوسط ډول به داسي چټک ځي چي تر رمل تیز خو تر ډیره منډه ورو وي.(داحکم یوازي

٨٦ مسئله :دميلين اخضرينو (زرغونو ميلانو) ترمنځ ګړندي تلل مسنون دي.

مسئله: که دميلونو ترمنځ په ځغاسته لاړنشي، يا په ټوله سعى کي ځغاسته وکړي دابده ده، خو دم يا صدقه وريا ندي نه واجبيږي.

مسئله :که دګڼه ګوڼي له امله، دزرغونو ميلونو ترمنځ په منډه تلل نورو يا خپل ځان ته تکليف ؤ، بيا ځغاسته سنت نه ده. که موقع وه منډې دي وهي يا دي دتيز تلونکو په څير حرکت کوي. (معلم الحجاج ص ١۴۵)

مسئله :که دسعى په مهال جماعت ودريد يا جنازه وه نو سعى دي پريږدي، په لمانځه کې دي ګډون کوي او بيا دي پاته ګرځيدل پوره کړي. که کوم عذر پيښ شي هم دي پاته ګرځيدل وروسته پوره کړي.

جايزي خبري کول چي، دمصروفيت، خشوع او خـضوع خلاف نه وي، همدغسي خوړل، څښل چي دسعى په ګرځيدلو کې بيلوالى نه راولي مباح دى.(معلم الحجاج ص ١۴٩)

(طواف او سعى دلمانځه په څير نه دى چي، په ضروري خبره يا بل څه ماتيږي.)

مسئله :سعى اوه ځله ګرځيدل دي، له صفا څخه تر مروه پوري يو چکر(يو ځل ګرځيدل) دي او له مروه څخه تر صفا پوري دوهم ځل ګرځيدل دي. همـــداسي اوه ځله ګرځيدل دي.(معلم الحجاج ص ١۴۴)

مسئله :سعی دي په خپله کوي (که دعذر له امله) په سپرلي کيږي هم ودي کړي.په سعی کې نيابت جايز نه دی.خو که تر احرام وړاندي بيهوښه شي، بيايي بل شخص په ځای سعي کولای شي خو چي دسعی ترختم پوري بيرته حال ته رانشي .(معلم الحجاج ص۱۴۶)

مسئله : دعورت (دسړيو لپاره له نوڅخه دځنګانه تر ستر ګي) پټول په هرحال کې فرض دي. دلته په احرام کي يې ډير اهتمام ضرور دی.(معلم الحجاج ص۱۴۹)

(ځکه کله احرام واوړي يا دخوب په مهال بي پردي شي.)

مسئله :په اوداسه اوپاکو جامو کې سعی کول مستحب دہ، خو له دې پرته هم سعی کيږي.

(احکام حج ص۵۹، حج بيت الله کې اهم فتاوی ص ۵۵)

مسئله :دسعی په دوران کې اودس شرط نه دی. که له او دس پرته سعی وشي،کيږي اوداحکم دعرفات دډريدلو هم دی.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص۱۰۹ –فتاوی رحيميه ج ۸ ص۳۱۹)

مسئله :که دطواف او سعی ترمنځ ډير ځنډ هم وي بيا هم کومه جزا نشته . (معلم الحجاج ص۱۴۳)

مسئله :ترطواف وروسته سعی اودسعی اوه ځله کرځيدل واجب دي.

مسئله :سعي پياده کيږي، که له عذر پرته په سپرلي وشي يا به بيا سعي کوي يادم لازميږي .

مسئله :سعی ترطواف وروسته ده ،که ترطواف وړاندې وشي اوطواف وروسته وکړي، نوهغه سعی نه شمیر له کیږي. هروخت چي ورته امکان ولري دهغې بیرته کول واجب دي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۷۷، معلم الحجاج ص ۱۴۸)

مسئله :دصفا اومروه ترمنځ، دسعی لپاره نیابت(دځان پرځای بل څوک درول) جایزنه دی. که عذرؤ،سعی دي په سپرلی وکړي. (غنیة المناسک ص ۷۰)

چي له سعی فارغ شي څه به کوي؟

مسئله :که احرام یوازې دعمرې لپاره وي یا دتمتع حج وي نو اوس احرام او دعمرې افعال بشپړ شول. یعني اوس دعمرې دري عملونه ختم شول چي هغه لومړی احرام دوهم طواف او دریم سعی ده. (مستحب داده چي په مطاف کې دوه رکعته لمونځ وکړل شي، ترطواف وروسته چي دوه رکعته کیږي هغه واجب دي خوترسعی وروسته دوه رکعته لمونځ چي دی، هغه مستحب دی. که چا ادا نکړ،نوقضا نلري، دا لمونځ به په مروه کې نه کوي، مطاف ته به راځي هلته به یي اداء کوي.)

اوس وروستنی کار پاته دی چي هغه حلق یعني سرخرییل یا ویښتان کوچني کول دي، سړی به دخریلو دکان ته ځي خپل ویښتان به یا خریي او یا به یي کوچني کوي یا که ورسره کوم ملګری وي، که یي هغه کوچني کړي هم جایز دي. په دې کې ځیني خلک غلط پوهیږي. وایي که دوه ملګري وي نو دیوه او بل سرونه څرنګه وخریي. لومړی دي یو په دلاک

وخرييي يا دي بل وخريي ، دا خبره غلطه ده ، هغه چي دعمرې
يا حج تول كارونه كړي دي، يوازې دا حرام خلاصول پاته دي ،
اوس ورته هرڅه جواز لري ، دملګرې سر دي ورته وخريي يا
دي ملګري دده سر ورته وخريي. هر صورت يې جايز دى. په
دې كي څه ستونزه نشته.

دميرمنې دويښتانو دپريكولو صورت دادى چي ، دسر
ويښتان دي سره يوځاى ونيسي، كوم دوه دري تارونه چي
اوږده دي هغه دي غوڅ كړي. بيا دي ذكوتي ديوه بند په
اندازه په خپله يا دي خاوند يا بله ميرمن ورته بياتني كړي، خو
غير محرم دي ورته نه غوځوي . په مسجد كې دي هم ويښتان
نه اخلي ، په خپله هستوګنځاى او يا هم تر مروه بهر دي
واخلي. خو دحرم په حدودو كې غوڅول ضروري دي.
دويښتانو تر اخيستلو وروسته، دعمرې عمل بشپړ شو.
دتمتع په حج كې دوه شيان دي، يو حج او بله عمره ، دعمرې
عمل پوره شو. اوس دا شخص دمكي هستوګن دى. حيثيت
يې هم هغه دى كوم چي دمكې مكرمې دهستوګن دى. لكه
هغه چي له خپله كوره احرام تړي همدا شخص يې هم له خپل
هستوګن ځاى څخه دحج احرام تړلاى شي.

په مكه مكرمه كې دهستوګني په مهال چي نفلي طوافونه
ډير وشي. دجماعت دلمانځه پوره اهتمام وشي، لږ تر لږه
يوځل په حرم كې قرآن ختم شي . دمكې دهستوګنو په څير د
عائشي رضى الله عنها مسجد ته لاړ شي، دنفلي عمرې نيت

وشي احرام وتړي او دعمرې ستره نیک مرغي تر لاسه کړي.
په مکه کې دهستوګني په مهال چي نفلي طوافونه کیږي په هغه کې اضطباع او رمل نشته. اضطباع او رمل په هغه طواف کې دي چي په هغه پسي سعي هم وي. خو تر نفلي طواف وروسته هم دوه رکعته لمونځ کول واجب دی. (محمدرفعت قاسمي)

دويښتانو تر کمولو يې خريبل غوره دي

تر قرباني وروسته، احرام خلاصيږي. داحرام دخلاصولو طريقه، حلق يعني سرخريبل يا ويښتان کوچني کول دي. ددي غوره طريقي حکمت دادی چي: لکه دلمانځه له تحريمي څخه چي په سلام ګرځولو سره وزي، هغسې له احرام څخه دوتلو طريقه حلق (ويښتان خريبل يا کوچنې کول) دي. دا طريقه له دوو وجهو تجويز شوي ده:

لومړی: داطريقه چي له احرام څخه ورباندي وزي، دوقار خلاف نه ده. ځکه يي داطريقه معلومه کړي ده چي که خلک ازاد پريښودل شي، چي هر ډول غواړي هغسي به له احرام څخه وزي، نو معلومه نه ده چي خلک به څه څه کارونه وکړي. يو به جماع کوي، بل به ښکار کوي، بل به بيابل عمل کوي. همداسي که يي له لمانځه څخه دوتلو لپاره آزادي ورکړي وای نو خلک به دلمانځه په يوه منافي عمل سره له لمانځه وتل، معلومه به نه وه، په مناسب او نامناسب کارونو به له لمانځه څخه وتل.

له همدې امله، له لمانځه څخه دوتلو طريقه يي په سلام

ويلو واجب کړه چي دايو با وقاره عمل دی او په خپل ذات کې يو ذکرهم دی. همداسي يي له احرام څخه دوتلو لپاره دا لاره غوره کړه چي له متانت سره منافي نه ده.

دوهمه وجه يي داده چي داحرام په مهال سرونه خيرنيږي. دويښتانو بيخونه دوړي خاوري نيسي او خيرن کيږي. دا خيره هغه مهال لري کيدلای شي چي سر وخرييل شي. نو له همدې امله داعمل غوره دی. (رحمة الله الواسعه ج ۴ ص ۲۰۷)

همداسي کله چي څوک دپادشاهانو دربار ته ځي نو دپاکي ښه اهتمام کوي، حجاج چي احرام خلاص کړي دزيارت دطواف لپاره دخدای تعالی دربار ته حاضريږي .نو دلته ښه په پاکي کې حاضريدل وړ او مناسب دي او دسرپه خرييلو خيري ښي پاکيږي، له همدې امله يي سر خرييل افضل او غوره دی.

يوه بله وجه داهم ده چي سر وخريي او احرام خلاص کړي.

ددي اثر ترڅو ورځو پوري پاته کيږي، ترڅو ويښتان لوی شوي نه وي هر ليدونکي دامحسوسوي چي دي شخص حج کړي دی، ددې عبادت (حج) شان لوړيږي، ځکه هم تر قصر يعني لنډي کولو يي حلق يعني خرييل غوره دي.

(رحمة الله الواسعه ج ۴ ص ۲۴۸)

د چا په سر که ویښتان نه وو نو څه به کوي؟

پوښتنه: څوک حج ته لاړل، څ عمرې یې وکړې، داچې هره ورځ یا یوه نه بله ورځ یې عمره کوله، نو ویښتان یې نژدې یو سوت (دانچ اتمه برخه) یا تر دې هم واړه لیدل کیږي، ایا داخریل صحیح کیږي، کنه؟

جواب: په پوښتل شوي صورت کې، که په سر باندې د حلق له امله ویښتان نه وو، نو یوازې ورباندې چاړه تیرول کفایت کوي. خو داچاړه تیرول واجب دي. هغه ویښتان چې د ګوتې تر بند پورې یې ښودلي دي، هغه په دې صورت کې دي چې په سرباندې ویښتان وي.

(فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۴۰۷ عالمګیري ج ۱ ص ۱۴۹)

داحرام خلاصولو لپاره
څومره ویښتان غوڅول کفایت کوي؟

پوښتنه: په عمره کې خلک لیدل کیږي چې تر عمره کولو وروسته، پرته له دې چې ویښتان وخریې احرام خلاصوي یا ځیني خلک له څلورو لورو معمولي ویښتان واخلي او دا وایي چې د سر د ویښتانو د څلورمې برخې د غوڅولو حکم دی، داسې پوره کیږي یا یې ځیني کسان په ماشین باندې سر خریي. په دې هکله څه حکم دی؟ د هغوی د احرام په خلاصولو دم یا بل څه لازمیږي، کنه او مسنونه طریقه کومه ده؟

ځواب: د حج او عمرې د احرام خلاصولو لپاره څلور صورتونه غوره کولای شوي. د هریوه حکم بېل، بېل و لیکل شي،

لومړی: داچي دچاړې په واسطه ټول ويښتان وخريل شي، داصورت ترټولو غوره دی.

او دخريونکو لپاره رسول الله صلی الله عليه وسلم درې ځلي درحمت دعا کړې ده، څوک چي حج يا عمري ته لاړ شي يا هم درسول الله صلی الله عليه وسلم درحمت له دعا څخه محروم پاته شي، ددي محرومي څه درک دی؟ له همدې امله حج او عمرې ته دټولو تلونکو لپاره دا مشوره ده چي درسول الله صلی الله عليه وسلم له دعا څخه محروم پاته نشي، بلکې حلق دي وکړي او احرام دي خلاص کړي.

دوهم صورت يي دادی چي دبياتي يا ماشين په واسطه دسر ټول ويښتان واخلي. داصورت له کراهت څخه پرته جواز لري.

دريم صورت يي دادی چي لږ تر لږه، دسر څلورمه برخه ويښتان واخلي، داصورت تحريمي مکروه او ناجايزه دی. ځکه په يوه حديث کې ددي ممانعت شوی دی، خو احرام ورباندي خلاصيدلای شي.

اوس تاسو په خپله فکر وکړئ څوک چي دحج او عمري په څير سپيڅلي عبادت پايله په يوه ناجايزه فعل سره کوي، آيا حج او عمره به يي قبوله شي؟

څلورم صورت دادی چي څو ويښتان له دې خوا او هغې خوا واخلي او دسر تر څلورمي برخي کم وي، احرام ورباندي نه خلاصيږي، بلکې دغه شخص په احرام کې پاته کيږي او

داحرام دممنوعه شيانو پابندي ورباندي لازمه ده . كه څوك
شوي جامې واغوندي او يا دنورو ممنوعاتو مرتكب شي نو
دم (وينه-قرباني) ورباندي واجبيږي.

نن سبا، بې خبره خلک نورو ته ګوري او همدا اخلورم
صورت عملي كوي، دمسئلې له مخې دا خلک تل په احرام
كې پاته كيږي. داحرام په حالت كې دټولو ممنوعاتو مرتكب
كيږي. هغه دخپلې بې خبرۍ له امله داسې فكر كوي چې موږ
څو ويښتان غوڅ كړل ،احرام مو خلاص كړ. حال دا چې احرام
يې خلاص شوي نه دی او داحرام په حالت كې داحرام خلاف د
اعمالو ارتكاب كوي او دالله تعالی قهر او غضب ته برابريږي.

همدا لامل دی چې په زرګونو خلكو كې كه دكوم يوه حج
او عمره دشريعت سره برابر وي، نور هسې سيل او سياحت
وكړي، راشي او حاجي ورته ويل كيږي.

عوامو ته ښايي چې دحج اوعمرې مسائل له علماوو څخه
زده كړي،يوازې په ليدلو كتلو كار نه كيږي.(آپ كي مسائل ج ۴ ص ۱۲۴)

ايا دټول سر دويښتانو برابرول واجب دي؟

مسئله :كه دګوتې دبند په اوږدوالي ويښتان واخستل شي،
دسر دڅلورمې برخې دګوتو د بندونو په برابر اخستلو سره محرم
خلاصيږي، خو دټول سر ويښتان برابرول واجب دي. (له دې خوا
او هغې خوا دې څو تاره ويښتان نه اخلي) كه د ګوتې دبند په
اندازه ويښتان نه واخستل شي. يعني ويښتان واړه وي، نو خريل
يې ضروري دي. له خريلو پرته يې احرام نه خلاصيږي .

له وړاندي تفصيل سره سم ، دسر دویښتانو تر غوڅولو یا خریلو وروسته حلالیږي، څومره واري چي له شرعي طریقي پرته یي احرام خلاص کړي وي ، دهر وار لپاره دي دم اداء کړي او داحرام تر خلاصولو وروسته چي یي څومره ممنوعات کړي وي. په هغوی دم یا بل څه نشته. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۳۶)

داحرام خلاصولو څه طریقه ده؟

مسئله :داحرام دخلاصولو لپاره حلق (سرپاک خریل) غوره او قصر(دویښتانو کوچني کول) جایز دي. دامام ابو حنیفه (رحمه الله) په نزد ، داحرام دخلاصولو لپاره داشرط دی چي، لږترلږه به دسر دڅلورمي برخي ویښتان دګوتي دبند په اندازه لنډکړل شي. که دسر ویښتان واړه وي، دګوتي تربند لنډوي، بیادي په چاړه وخریل شي، له دي پرته احرام نه خلاصیږي. (آپ کي مسائل ج ۴ ص ۱۰۲)

مسئله : که چا په صابون یا دوا سره دسر ویښتان لري کړل هم کافي دي . که په سر ویښتان نه وي یا پک وي یوازې چاړه وربانـدي تیرول بس دي. کـه پـه سر باندي ټپ وي او چاړه وربانـدي تیرېدلای نشي نو دا واجب ورڅخه ساقطیږي.
(فتاوی محمودیه ج ۱۳ ص ۱۸۰ – معلم الحجاج ص ۱۷۶)

مسئله :قصر (دویښتانو کوچني کول) هغه مهال کیدلای شي چي ویښتان دګوتي دبند په اندازه وي، که تر هغه واړه وي، بیا حلق (خریل) دي. قصر نه صحیح کیږي. هغه کسان چي څو،څو ځله عمره کوي، هغوی ته لازم دي تر څو تر هر ځل

عمري وروسته حلق وکړي. په قصر کولو د هغوی احرام
خلاصیدلای نشي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۴۲)

مسئله: که ماشین واړه ویښتان هم اخستلای شي، بیا
سمه ده، دټولو عمرو لپاره صحیح ده خو په دې حالت کې
احتیاط دادی چې بیا ورباندي چاړه تیره شي. (کیدلای شي
ویښتان خورا واړه وي او ماشین ورنشي.) (ف محمودیه ج ۳ ص ۱۸۳)

مسئله: که کوم ځنګل یا داسي ځای ته لاړ شي چې هلته
چاړه یا بیاتي نه وي، داعذر اعتبار نلري ترڅو یي سر خرییلي
یا یي ویښتان کوچني کړي نه وي، نه حلالیږي. (معلم الحجاج ص ۱۷۶)

داحرام په حالت کې دیوه او بل سر خرییل

پوښتنه: له قربانۍ څخه تر فراغت وروسته، دویښتانو
دکمولو لپاره مو دحجام پلټنه وکړه، خو ومو نه موند. زما
ملګری چې په احرام کي ؤ، زما ویښتان یي راکوچني کړل. نو
حکم یي څه دی؟

ځواب: داحرام دخلاصولو په نیت، محرم خپل ویښتان هم
کوچني کولای شي او دبل هم. ستا ملګرې چې ستا داحرام
دخلاصولو لپاره یي ستا ویښتان کم کړل، ښه یي وکړل. دهغه
په ذمه دم نشته. (آپ کې مسایل ج ۴ ص ۱۴۳)

مسئله: که ترحلق وړاندي دواړه له نورو کارونو فارغ وي
او اوس فقط حلق پاته وي، دامهال دیوه او بل حلق (ویښتان
خرییل) جایز دي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۱۲ غنیة ص ۹۲ فتاوی رحیمیه ج ۳ ص ۱۱۵)

مسئله :داحرام دخلاصولو لپاره، میره دخپلې میرمنې او پلار دخپل زوی ویښتان کمولای شي. میرمن داکار په خپله هم کولای شي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص۱۴۴)

مسئله :که حاجي متمتع، قارن یا مفرد وي چې، ترحلق وړاندې یې ټول ارکان پوره کړي وي، دسرخریيلو وخت راغلی وي اوبل محرم هم ټول کارونه کړي وي، خپل ویښتان یا دبل ویښتان کمول داحرام په ممنوعاتوکې نه دي. نو دامحرم خپل حلق هم کولای شي او ترخپل حلق وړاندې دبل محرم ویښتان هم غوڅولای شي.

په بخارۍ شریف لومړی جلد ۱– ۳۸۰ مخ کې، دحدیبيې دصلح په اړه راځي :

{صلح وشوه، رسول الله(صلی الله علیه وسلم)قرباني او حلق وکړل، ویې لیدل چې صحابه (رضی الله عنهم) هم قرباني کوي او دیوه اوبل سرونه یې په داسې وخت کې خرییل چې هغوی محرم وو.}

له دې حدیث شریف څخه ثابتیږي چې ترقرباني وروسته محرم یو دبل سرونه خرییلای شي.

(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص۲۹۶، دغنیة المناسک په حواله ص ۹۳، معلم الحجاج ص۹۲، زبدة المناسک ص ۱۷۷ وفتاوی محمودیه ج ۱۷ ص ۱۹۲)

****

که تر حرم بهر حلق وکړي حکم يې څه دی؟

پوښتنه: چا عمره وکړه، بیا جدې ته راغی، په جده کې يې سر وخریيه چې دا ځای له حرم څخه وتلی دی، ددې لپاره حکم څه دی؟

جواب: دحج یا عمرې له احرام څخه دحلال کیدلو لپاره حلق یا قصر دحرم په حدودو کې ضروري دی. که بهر وشي دم لازمیږي.

مسئله: که په حج یا عمره کې له حرم څخه بهر حلق وکړي نو دم باندې اوړي. که په حج کې دنحر تر ورځو وروسته حلق وکړي هم دم ورباندې لازمیږي.

مسئله: که دعمرې له احرام څخه دحلالولو لپاره، دحرم څخه بهر حلق وکړي یا دحج له احرام څخه دحلال والي په نیت له حرم څخه بهر یا دنحر تر ورځو وروسته سر وخریي، نو دم واجبیږي او دوه دمه، یو له حرم څخه دبهر کیدلو او بل دنحر تر ورځو وروسته په حلق کولو.

په پوښتل شوي صورت کې چې جدې ته په رارسیدلو سر وخریي، نو یو دم لازمیږي او دا په حرم کې ذبح کول ضروري دي. (مثی تولیه دذبح ځای دی، همداسي دمکې کوڅې.)

(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۲۴، زبدة ج ٦ ص ۸٦ په حواله، معلم الحجاج ص ۱۴۷، لومړی هدایه ص ۲۵٦)

مسئله: حجامت تر لسو دوولسو وارو پورې کیږي، که شپه وي او که ورځ، تر رمی او قرباني وروسته په حرم کې دوېښتانو اخستل ضروري دي. که له دې څخه وروسته او تر

حرم بهر حجامت وکړل شي، حلالیږي خو دم (وینه – قرباني) واجبیږي. (معلم الحجاج ص۱۷٦)

مسئله: حج یا عمره کوونکی که د حرم له حدودو څخه بهر ووزي، بیا حرم ته بیرته راشي او سر وخریي نو څه نه واجبیږي خو که حاجي د نحر تر ورځې وروسته راشي او سر وخریي د ځنډیو دم ورباندې واجبیږي. (معلم الحجاج ص ۲۴۷)

دمقدسې روضې دزیارت فضائل

د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت کول، د دنیا او اخرت د نیک مرغي پانګه ده. د ایمان لرونکو د مینې همدا اصلي مقصد دی. ددې د فضلیتونو بیان ته څه اړتیا نشته. خو ددې دربار د رحمت او کرامت د برکتونو غوښتنه ده چې کوم کسان د هغه ستر دربار زیارت ته ځي، د هغوی لپاره دا بې کچې دولت یعني د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روضې د ښکلا په لیدنه هم د لوړو درجو وعده شوې ده. دلته به د ساري په توګه درې څلور مبارک حدیثونه ولیکل شي.

۱– د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: (څوک چې زما د زیارت لپاره راشي، له زیارت پرته یې بل کار نه وي، زه به یې ضرور د قیامت په ورځ شفاعت وکړم.)

۲– د رسول الله صلی الله علیه وسلم، لارښوونه ده: (څوک چې حج وکړي، بیا زما تر وفات وروسته زما د قبر زیارت وکړي، هغه داسې دی لکه زما په ژوند چې یې زما زیارت کړی وي.)

۳- د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده: (څوک چې قصدو کړي چې زما زیارت ته راشي، هغه به د قیامت په ورځ زما په ګاونډ کې وي او څوک چې د حرمینو په کوم ځای کې مړ شي، هغه به الله تعالی د قیامت په ورځ د هغو خلکو په ډله کې را اوچت کړي چې په هغوی به ویره نه وي.)

۴- د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ارشاد دی: (څوک چې زما تر وفات وروسته، زما زیارت وکړي ګواکې په ژوندیي زما زیارت کړی دی، څوک چې زما د قبر زیارت وکړي هغه ته د قیامت په ورځ زما شفاعت لازم دی. زما د امت هغه څوک چې وس لري او زما زیارت ونکړي نو د هغه عذر نه اوریدل کیږي.)

د ابن عمر رضی الله عنهما عادت ؤ: کله چې به له کوم سفر څخه راغی، لومړی به سپیځلې روضې ته حاضریده، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې سلام وړاندې کاوو.

عمربن عبد العزیز رحمه الله، به له شام څخه مدینې منورې ته قاصد ولیږه تر څو د ده سلام د رسالت دربار ته ورسوي. دا د تابعینو زمانه وه. د اسې نور هم ډیر روایتونه شته چې ور څخه څرګندیږي چې اصحاب او تابعین څومره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت تږي وو او د هغه به یې څومره اهتمام کاوو. په اصل کې یوه مؤمن ته به د الله تعالی له دیدار څخه وروسته، تر دې کوم بښه نعمت وي چې هغه په خپلو سترګو د دې نور د ګنبدې لیدنه وکړي او هغې دیوزلو تکیه ګاه ته سلام عرض کړي او بیا یې په جواب مشرف شي. (علم الفقه ج ۵ ص ۸۵)

له زيارت کولو پر ته که څوک راشي ؟

پوښتنه : که څوک حج ته لاړ شي، د روضې له زيارت کولو پرته بيرته راشي، دهغه حج بشپړه کيږي کنه؟

ځواب :څوک که درسول الله صلی الله عليه وسلم دروضې له زيارت کولو پرته راشي،حج يې اداء کيږي خوله بې غيرتې څخه يې کاراخستی اودمبارک زيارت له برکت څخه بې برخې شوی دی.که څه هم درسول الله صلی الله عليه وسلم پاکې روضې ته تلل، يومستقل مندوب عمل دی.دحج په اعمالو کې داخل نه دی.خوڅوک چې حج ته لاړشي نوددې نيک مرغې ترلاسه کول ورته آسانه دي.له همدې کبله په حديث شريف کې راځي :(څوک چې دبيت الله شريف حج وکړي او زما زيارت ته رانشي، هغه له ماسره دغيرت خلاف کار وکړ .)

(آپ کې مسايل ج ۴ ص ۱۵۱)

مسئله :څوک چې حج وکړي اومجبوراً دپيسود کموالي له امله مدينې منورې ته تلای نشي،دهغه حج پوره دی،کومه شبه پکې نشته . خوکه له وس لرلوسره ،سره بياهم لاړنشي، دا بده ده اودبې برخې توب خبره ده .خودپيسو دکمښت له مجبوري څخه که ورنشي څه مواخذه وربانديې نشته.

(فتاوی دارالعلوم ج ٦ ص ۵۸۱ مشکوة شريف ج ۳۲ ص ۳۵۲)

****

په نبوي مسجد کې ولې څلوېښت لمنځونه کول ضروري دي؟

پوښتنه: چا عمره وکړه ، نبوي مسجد ته حاضر شو ، بېرته راغی .يعني په مدينه منوره کې يې څلوېښت لمونځونه ونکړل ايا څه ګناه ده؟

جواب : کومه ګناه خونه ده ، خو په نبوي مسجد کې د څلوېښت لمونځونو يو ځانګړې فضيلت دی، هغه يې تر لاسه نکړ.

په يوه حديث شريف کې ، په نبوي مسجد کې د څلوېښتو لمونځونو چې د تحريمي تکبير تري پاته نشي، خاص فضيلت ياد شوی دی. الفاظ يې :انس رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي : {څوک چې زما په مسجد کې څلوېښت لمونځونه داسې ادا کړي چې کوم لمونځ (په جماعت سره) ورڅخه پاته نشي، هغه ته له دوزخ او عذاب څخه برائت ليکل کيږي او له نفاق څخه به خلاص وي.(مسند احمد ج ٣- ١٥٥ اپ کې مسائل ج ۴ ص ١٥٣ ،فتاوی محموديه ج ٣ ص ١٨٦)

دسپيڅلې روضې دزيارت کولو طريقه

فقهاوود رسول الله صلی الله عليه وسلم د مبارکې روضې او دنورو مسجدونو دزيارت کولو دا آداب تاکلي دي. وايي :څوک چې نبوي زيارت ته دتللو قصد وکړي ، تر هغوی دي درود او سلام وايي. کله له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته ځي، کله چې د مدينې منورې فصيل تر سترګو شي

نو په رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې درود او دا دعا وايي :

{اللهم هذا حرم بينک فاجعله وقاية لي من النار وامان من العذاب وسوء الحساب.}

(لويه خدايه! دا ستا دنبي حرم دی ، دهغه په برکت ما ددوزخ له اور څخه وساتي ، له عذاب او دمحاسبې له سختي څخه مي وساتي.)

ښه داده چي مدينې منورې ته ترداخليدلو وړاندي، که موقع وه ترننوتلو وروسته غسل وکړي ، خوشبويي ووهي ،خپلي غوره جامي واغوندي او مدينې ته په عاجزي ، ارامتيا او وقار سره داخل شي. که ځای او موقع وه، نو درسول الله صلی الله عليه وسلم له منبر سره دي دوه رکعته لمونځ وکړي . دلمانځه لپاره دي داسي ودرېږي چي دمنبر ستنې دښې اوږې په برابر وي. رسول الله صلی الله عليه وسلم به هلته دريده. دا ځای دمبارک قبر او منبر تر منځ دی.(کنه هرځای چي ځای پيدا شو هلته دي دوه رکعته دشکراني لمونځ وکړي.) بيا دي الله تعالی ته درارسيدلو دتوفيق دشکر سجده وکړي. څه چي يي زړه غواړي هغسي دعا دي وکړي. بيا دي درسول الله صلی الله عليه وسلم ذ قبر لور ته لاړ شي. درسول الله صلی الله عليه وسلم دسر لورته، مخ دي قبلي ته کړي ودي درېږي. قبر ته دي دري څلور لاسه ورنژدې شي ، وړاندي دي نشي، دقبر په ديوال باندي دي لاس نه ږدي. داسي په ادب دي ودرېږي لکه په لمانځه چي ولاړ وي، هلته

درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه څهره دې په تصور کې راولي، ګواکې هغه په خپل قبر کې پیده دی، دده په موجودیت پوهیږي او خبري یې اوري، بیا دې ووایي :

{السلام علیک یا نبي الله ورحمة الله وبرکاته ، اشهدانک رسول الله فقد بلغت الرسالة وادیت الامانة.}

(یعني السلام علیک یا نبي الله ورحمة الله وبرکاته ! زه په دې شاهدي وایم چې بیشکه ته دالله جل جلاله رسول یې تا درسالت حق پوره کړ دالله تعالی امانت دې ادا کړ.)

(یا الله ! درسول الله صلی الله علیه وسلم په قبر باندې مي دا وروستني حاضري مکوي. اي ذوالجلال والاکرام ذاته دبیا راتلو توفیق راکړي.)

ددې دعا په مهال دې نه اواز لوړوي او نه دې بیخي ورو وي. بیا دې ورباندې دهغه چا چې دخپل سلام درسیدلو غوښتنه یې کړي وي، سلام ووایي. ، ددې لپاره داسي ویل کیږي:

{السلام علیک یارسول الله من فلان ابن فلان یستشفع بک الي ربک فاشفع له ولجمیع المؤمنین.}

(اي رسول الله ! په تاباندې فلاني دفلاني زوی سلام وایه ، هغه له تاځخه دالله تعالی په دربار کې ستاشفاعت غواړي، نو دهغه او ټولو مؤمنانو شفاعت وکړي.)

يا چې چيري درسول الله صلی الله علیه وسلم څهره ده، هغه لورته چې شا دقبلې خوا ته وي ودريږي. کوم درود چې غواړي هغه دي ووايي. ديوه لاس په اندازه دي تير شي، دصديق اکبر رضی الله عنه، له سر سره دي ووايي : {السلام عليک يا خليفة رسول الله ! السلام عليک يا صاحب رسول الله في الغار السلام عليک يا رفيقه في الاسفار .}

(ای درسول الله صلی الله علیه وسلم خليفه! پر تا دي سلام وي، اي په غارکې درسول الله صلی الله علیه وسلم ملګري پر تا دي سلام وي ، په سفرونوکې درسول الله شريکه ،پر تا دي سلام وي.)

بيا دي له هغه ځايه وښوري، دعمر رضی الله عنه قبر ته دي ورسي او ودي وايي :

{السلام عليک يا اميرالمؤمنين ، السلام عليک يا مظهر الاسلام ، السلام عليک يا مکسر الاصنام ، جزاک الله عنا افضل الجزاء ورضي الله عنک.}

(ای اميرالمؤمنينه! پر تا دي سلام وي، اي د اسلام ښکاره کوونکي پر تا دي سلام وي، اي بت ماتوونکي پر تا دي سلام وي، الله تعالی دې زموږ له لوري درته غوره اجر درکړي او الله دي درڅخه راضي وي.)

تر دې وروسته چې څرنګه غواړي هغسي دعا وکړئ چې څه غواړی هغه وغواړئ.

درسول الله (صلی الله علیه وسلم) دقبر دزیارت تر فراغت وروسته، دبقیع هدیري لور ته لاړ شي. په قبرونو حاضر شي، دلته دعباس، حسن بن علي، زین العابدین، دهغه زوی محمد باقر، دهغه زوی جعفر صادق، امیرالمؤمنین سیدنا عثمان (رضی الله عنهم) درسول الله زوی ابراهیم، امهات المؤمنین، درسول الله (صلی الله علیه وسلم) عمه، صفیه او نورو ډیر صحابه وو او تابعینو (رضی الله عنهم) امام مالک او نافع (رحمهما الله) قبرونه دي.

مستحب داده چي دپنجشنبې په ورځ، د احد دشهیدانو خصوصاً د حمزه رضی الله عنه دمزار زیارت وشي. او هلته ووایي: {سلام علیکم بما صبرتم فنعم عقبی الدار، سلام علیکم دارقوم مؤمنین ولنا ان شاء الله بکم لاحقون.}

(اي دقبرونو اهله! په هغه صبر او استقامت چي تاسو یي ځرګندونه وکړه، پر تاسو دي سلام وي. آخرت څومره ښکلی ځای دی، دایمان لرونکو په دي هستوګنځي باندي دي سلام وي. موږ هم انشاء الله له تاسو سره ملګري کیدونکي یو.)

دلته دي ایة الکرسي او داخلاص سورة (قل هو الله) ولولي. دشنبې په ورځ دقبا مسجد ته تلل مستحب دي.

ترڅو څوک په مدینه منوره کې وي، دا مستحب ده چي لمونځونه په نبوي مسجد کې وکړي. کله چي یي خپل هیواد ته دتللو اراده شي، په مسجد کې دوه رکعته دوداع (رخصت) لمونځ وکړي او چي څه مطلب لري دعا وکړي. بیا دي درسول الله (صلی الله علیه وسلم) قبرته ورشي،

دعا وکړي، الله دعا قبلوونکی دی.
(کتاب الفقه علي المذاهب الاربعه ج ۱ ص ۱۱۸۰)
(دا تصور دي وکړي چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دربار کې حاضر یم او هغه په خپله زما خبري اوري او په پوره ادب او ټیټ غږ د صلوة او سلام ډالۍ ورته وړاندي کړي. د شفاعت غوښتنه وکړي. د صلوة او سلام صیغي اوږدي هم شته او لنډې هم، د کوموچې یې خوښې وې هغه دي وایي، خو د عامو خلکو لپاره په لنډه توګه سلام ویل غوره دي:
الصلوة والسلام علیک یارسول الله.
(ای د الله رسوله! پر تا دي درود او سلام وي.)
الصلوة والسلام علیک یا حبیب الله.
(ای د الله حبیبه! پر تا دي درود او سلام وي.)
الصلوة والسلام یا خیر خلق الله.
(ای د الله په مخلوق کې تر ټولو غوره، پر تا دې سلام وي.)
السلام علیک ایها النبي ورحمة الله وبرکاته.
(ای د الله نبي پر تا دې سلام او د الله رحمت او برکت وي.)
ه د چا شوق وي چې په اوږدو جملو کې سلام ووایي، نو د حج
، زیارت په هکله لیکل شوي کتابونه دي وګوري. په مدینه
نوره کې د هستوګنې په مهال، هره شیبه غنیمت وګڼل شي.
و مره کیدلای شي، طاعت او عبادت وکړل شي. هر لمونځ په
ماعت سره په نبوي مسجد کې ادا کړای شي. هڅه وشي په
یاض الجنة یا هغې برخه کې لمونځ وکړل شي چې د رسول

الله (صلی الله علیه وسلم) په زمانه کې مسجد ؤ، درود شریف په جاري
دول وویل شي. درسول الله (صلی الله علیه وسلم) مبارکې روضې ته
دیر، دیر ورشي او سلام ورته وویل شي. ځکه بیا همدا
نیکمرغي نه ترلاسه کیږي. ډیر وخت په نبوي مسجد کې
تیر کړل شي. که د ډیرې ګڼې ګوڼې له امله په مواجهه شریف
کې سکون نه وي او په ارامي سره د صلوة او سلام ویلو او
دعا موقع نه موندله کیدله، بیاله تجربې سره سم په دې
وختونو کې موقع وي.

۱- د ماخستن تر لمانځه یو ساعت وروسته.

۲- تر سهار نژدې یو نیم ساعت وروسته.

۳- د ماسپښین تر لمانځه یو ساعت وروسته.

که په مواجهه شریف کې، د درود او سلام ویلو موقع نه وي
، نو په نبوي مسجد کې چې هرځای اسانه وي، هلته دې درود
او سلام وویل شي.

په مدینه منوره کې د هستوګنې په مهال، تر لمانځه وروسته
کوشش وشي، د درود او سلام هغه ځلوښت صیغې چې په
مبارکو حدیثونو کې راغلي دي، یو ځل وویل شي. انشاء الله ډیره
ګټې به یې محسوسې شي. یا د لمانځه درود او سلام وویل شي.

(له تاسو څخه هیله ده کله چې په پاکه روضه کې په رسول الله (صلی الله
علیه وسلم) له خپل لوري یا د دوستانو له خوا، درود او سلام وایاست، نو
زموږ ګنهګارانو درود او سلام هم ورسوئ. څوک چې زموږ درود او
سلام زموږ باد ارته ورسوي، الله تعالی دې ورته د خیر بدله ورکړي
آمین. محمد رفعت قاسمي، مترجم او مصحح.)

د ياد ساتلو وړ خبري

دسپيڅلي روضي (مقصوده شريفي) اوږدوالی له شمال څخه د جنوب لورته (۱٦) متره، نژدې (۵۲) فوټه او سوريې له ختيز څخه لويديز ته (۱۵) متره نژدې (۴۹) فوټه ده. څلورو کونجو ته يې د مرمرو ډبرو ستري، ستري ستنې دي چې لوړوالي يې له چت سره برابر دی.

په ۹۸۰ هـ کال سلطان سليم (ثاني) په دې سپيڅلي روضي يوه گنبده ودانه کړه. هغه يې په رنګه ډبرو ښکلي کړه او دزرو په جړاو يې ښکلا ورته زياته کړه. گنبده يې زرغونه رنګ کړه، هغه پخوا سپين رنګي وه. له هم هغې ورځې څخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم مينه والو، هغه د خضراء گنبدې په نوم ياده کړله.

دلته يوه خبره په ياد ولرئ چې، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) له مبارک مزار سره، دري جالي دی او درې واړه سوری دي. عام خلک بلکې ډير عرب، داسي غلط پوهيدلي دي چې، لومړی جالی د رسول الله (صلی الله عليه وسلم)، دوهمه دابوبکر (رضی الله عنه) او دريمه د عمر (رضی الله عنه) له ارام ځای سره دي. خو داسي نه ده، بلکې د منځنی په برابر، درې واړه قبرونه دي. په منځنی جالی کې يو سوری دی چې، هغه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مخ مبارک سره دی. تر دې سوري لږ ييرته، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مبارکه سينه ده چې، هلته دابوبکر (رضی الله عنه) سر دی. دلته هم يو ګول ډوله سوری دی چې هلته د ابوبکر (رضی الله عنه) سر دی.

دابوبکر (رضی الله عنه) له سینې سره، د عمر (رضی الله عنه) سر دی. دهغه له سر سره هم یو سوری دی. ګواکې له منځنۍ جالۍ سره د دریو واړو ارام ځایونه دي.

کله چې له منځنۍ جالۍ سره ودریږئ، د جالۍ په منځ کې کیڼ لاس ته یو ګول سوری دی، داد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له مبارک مخ سره دی. له دې سره یوه بنده دروازه ده، په هغې پسې ښي لاس ته یو ګول سوری دی. داد عمر (رضی الله عنه) له ځهرې سره برابر دی. (محمد رفعت قاسمي)

●●●●●●●●●●●

۱- دلمانځه په مهال، په مسجد حرام کې په جماعت لمونځ کول، خورا غوره عبادت دی چې ثواب یې له یو لک لمونځونو سره برابر دی.

۲- په نورو وختونو کې دحج او عمرې دارکانو له ادا کولو سره، سره د کعبې دیر طواف کول غوره ذي.

۳- د ځینو کسانو ذوق داوي چې ځینې تاریخي ځایونه وویني. هغوی باید په همدې ځایونو کې کوم داسې عمل ونکړي چې د شرک او بدعت په جمله کې وشمیرل شي.

اردو بيت:

په ژبه د جذب او مينې دعـــوې نورې دي
د پيغــــمبر د اطـــاعت تقاضې نورې دي

دهغو ځايونو ښکلول، له هغوی سره ځان لـــګول، د خپلو خيالي مقصدونو لپاره څه شی بندول، رقعې اچول، پيسې اېښودل چې ګواکې دا مقصد مې پوره شي. دا يو هم شرعاً صحيح نه دي. ځکه زموږ ګران پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) چې هغه رحمة للعالمين او شفيع المذنبين دی، دلته يې دداسې څه کولو حکم کړی نه دی. او بيا دنبي (صلی الله عليه وسلم) ربښتونو مينه الو صحابه وو، سترو، سترو اولياوو داسې کړي نه دي. نو خوک دشرک کوم عمل ته دتوحيد نوم ورکولای نشي. په کوم دعت باندې هسې دتش په نوم مينې نښه نه لګوي او نه هغه بنت ورباندې ترنسره کيږي چې دربښتونې محبت غوښتنه ده، څو په توحيد او سنت کلک شي او له شرک او بدعت څخه

په نبوي مسجد کې اوه ځانګړې ستنې

حنانه ستنې

دا له محراب سره نژدې ده. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به له دې ستنې سره ودریده او خطبه به یې لوستله. دلته دهغې خرما دونې تنه خښه ده. کله چې له لرګیو څخه منبر جوړ شو، هغې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په فراق کې دماشوم انو په څیر ژړل.

دعائشې (رضی الله عنها) ستنې

یو ځل رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل:

{زما په مسجد کې یو داسې ځای دی چې که خلکو ته هلته دلمونځ کولو فضیلت په هکله معلومات وای، نو ورباندې به یې سره پچه اچوله.} (طبراني)

دا ځای عایشې (رضی الله عنها) وښود، دعایشې (رضی الله عنها) ستنې همدلته جوړه شوه.

دابولبابه رضي الله عنه ستنې

له یوه صحابي، ابولبابه (رضی الله عنه) څخه یوه ګناه شوې وه هغه دلته په ولاړه ستنې پسې ځان په دې نیت وتاړه چې، ترڅو مې الله جل جلاله ګناه راته ونه بخښي، زه به تر هغه دلته بندي یم. داسې وخت راغی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې دهغې ګناه دبخښلو خبره واوروله. اوس هلته یوه ستنه جوړه شوې ده، ورته دابولبابه (رضی الله عنه) ستنه ... یل کیږي.

دسرير ستنې

په دې ځای کې به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اعتکاف کاوو، د شپې به يې همدلته خپله بستره غوړوله.

دحرس ستنې

دلته به علی (رضی الله عنه) ډير وخت لمونځ کاوو، دلته به کښيناست او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ساتنه به يې کوله. دا د علي (رضی الله عنه) د ستنې په نوم هم ياديږي.

دوفود ستنې

دلته به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له بهر څخه له راغلو وفدونو سره ليدل کتل کول.

دتهجد ستنې

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به دلته د تهجد لمونځ کاوو.

دا ټولې ستنې د مسجد په هغه برخه کې دي کوم چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وخت مسجد دی. له دې ستنو سره دعا او استغفار ويل او که موقع وموندله شي او نوافل وکړل شي. دا خورا مبارک ځايونه دي.

••••••••••

اصحاب صفه

صفه، چتري او سيوري لرونکي ځای ته ويل کيږي
دپخوانۍ نبوي مسجد شمال ختيز لور ته، له مسجد سر
لګيدلي، يوه چوتره وه. داځای اوس دباب جبرئيل (ع) په
برخه کې، ددننه کيدلو په مهال، دمقصوده شريفي په شما
کې دتهجد له محراب سره نژدې، دوه فوټه لوړ په کتاره کې
ده. پراخوالی يي ۴۰×۴۰ فوټه ده.

له دې ځای سره خدمت کوونکي کبنيني. دلته خلک
دقرآن کريم په تلاوت لګيا وي. که تاسي دلته کبنينئ او
تلاوت کوئ، په سختۍ سره به ځای پيدا کړئ.

دلته به هغه مسلمانان اوسيدل چي، هغوی به کور او
ميرمن او اولاد نه درلودل. دې خلکو ته يي اهل صف
(دچوترې هستوګن) ويل. له همدې امله يي داځای دصفې
په نوم ونوماوو.

دې خلکو به له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه دینې زده کړه کوله. کله، کله به د اسلام د تبلیغ لپاره نورو ځایونو ته تلل.

که څه هم د ټولو صحابه وو ژوند خورا ساده وو، خو د اهل صفه د خلکو ژوند نور هم په فقر، سادګۍ او له دنیایي شیانو څخه لرې تیریده. دا خلک شپه او ورځ د نفس د تزکیې، د کتاب او حکمت د حصول او له مصطفوي فیض څخه ترلاسه کولو لپاره، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر وو. نه یې سوداګرې درلوده او نه هم زراعت. هغوی خپلې سترګې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دیدار، غوږونه د هغه صلی الله علیه وسلم کلماتو، جسم او روح د هغه د صحبت او مجلس لپاره وقف کړي وو.

هغوی د دین له شتمنۍ څخه پوره وو، خو د دنیا په ژوند کې یې د فقر او بې وزلۍ حال داؤ چې ابو هریره رضی الله عنه وايي:

{ما او یاتنه اصحاب صفه ولیدل چې څادر به یې نه درلود، یوازې لنګ به یې لاره یا یوازې یوه کمبله. څادر به یې په غاړه داسې تاړه چې تر پندو، د بعضو خو د ځنګانه تر سترګیو رسیده او په لاس به یې داسې نیولی و چې عورت یې ښکاره نشي. (بخاري شریف ج ۱ ص ۶۳)



له احاديثو څخه دثابت شويو درودونو ټولګه

{سَلامٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى وَسَلَمٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ.}(قرآن كريم)

١- اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ وَأَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ. (طبراني)

٢- اللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ وَصَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَارْضَ عَنْهُ رِضًا لا تَسْخَطُ بَعْدَهُ .(مسنداحمد)

٣- اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ وَ صَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ، وَالْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ .(ابن حبان)

٤- اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ فِي الْعَالَمِينَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. (شعب الايمان، للبيهقي)

٥- اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ ، وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ، اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ ، وَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.(بخاري شريف)

٦- اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ وَ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. (مسلم شريف)

٧- اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ ، وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ، اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ

آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ۔ (ابن ماجه)

۸- اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ ، وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ وَ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ ، وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ ، وَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ۔(نسائي)

